که بل هېواد دا ومني چې ستاسې دوسیه ځېړي، خو په ۶ میاشتو کې مو هلته ونه لېږدوي (د استولو په پړاو کې ډېر ژر لیکل شوي وي) نو بیا دا د فرانسې مسولیت ګڼل کېږي چې ستاسې د پناه غوښتنه وڅېړي. دا مهلت له هغې ورځې شمېرل کېږي چې بل هېواد ستاسو د دوسیې د څېړلو سره هوکړه وکړي. د ۶ میاشتو پای ته رسېدو نږدې به هغه «عبوري پاڼې laissez-passer» کې لیکل شوي وي چې پریفیکتور یې درکوي. که تاسې بل هېواد ته د لېږدولو په خلاف د بیا ارزونې غوښتنه کړې وي نو د محکمې تر پرېکړې وروسته دا ۶ میاشتینی مهلت بیا پیلېږي.

## د. «فراري» اعلانول

که د پریفیکتور، اوفي، پولیسو ماموریت، یا د هوایي میدان یو یا څو جلبونو ته ورنه شئ نو تاسې «فراري» اعلانوي. دا کار مخ په ریاتېدو دی او ډېری وختونه د پناه غوښتنلیک سپارلو سره کېږي. ځکه چې پریفیکتورونه ډېري پناه غوښتونکي په کور کې نظر بندوي، بیا نو هغوی ډېر ژر چې په منظم ډول د لاسلیک کولو لپاره پریفیکتور ته راشي. د دې سربېره، د پریفیکتور جلب پاڼې یا احضار پاڼېconvocation ځینې وخت داسې انداز سره لیکل شوي وي چې اندېښمنونکې وي («د لېږدولو دفتر سره د لیدنې وعده، د خپل سامان سره راشئ، د ویستلو د پړاو عملي کولو لپاره د پولیسو ماموریت سره د لیدنې وعده) او پناه غوښتونکي هلته له ورتلو ډارېږي...او فراري اعلانېږي.

پاملرنه! که «فراري» اعلان شوئ، ژر تر ژره د وکیل یا یوې ټولنې سره اړیکه ونیسئ ځکه دا شونې ده چې د دې پرېکړې خلاف اداري محکمې ته د بیا څېړنې غوښتنه وکړي (د Gisti ویبسایټ پاڼې د محکمو پخوانۍ پرېکړې او د راجع کولو بېلګې وګورئ).

که «فراري» اعلان شوي یئ او اداري محکمې ته مو د بیا څېړنې عریضه نه وي کړې یا مو منفي ځواب تر لاسه کړی وي، هغه مهلت ۱۸ میاشتو ته پورته شوی چې د هغې وروسته ستاسې د پناه غوښتنې د څېړلو مسولیت فرانسې ته ور تر غاړه کېږي.

تاسې باید ۱۸ میاشتې منتظر پاتې شئ چې فرانسه کې بیا د پناه غوښتنه وکړئ.

که «فراري» اعلان شئ نو اوفي در باندې د پناه غوښتونکو مالي مرسته یا ادا بندوي. او پاتې شوه د استوګنې خبره، نو دا هغه مرکز پورې اړه لري چې ور کې اوسئ. ځینې مرکزونه به هڅه وکړي چې ترڅو شونې ده تاسې هلته واوسېږئ، نور مو ښايي ژر له مرکزه وباسي.

له ۱۸ میاشتو وروسته تاسې په مستقیم ډول ګډا GUDA ته د په فرانسه کې د بیا پناه غوښتنې د پاره ورتلی شئ. شونې ده چې اوفي درته د پناه غوښتونکو مالي مرسته یا ادا درنه کړي. که داسې وي نو یوې ټولنې سره اړیکه ونیسئ چې و ګوري چې د اوفي د دې کار خلاف د بیا ارزونې غوښتنه کېدای شي که نه.

## ه. ستاسې په پناه غوښتنې اغېز

د «دوبلین» په ټول بهیر کې:

- تاسې د فرانسې په یو ځای کې هم د پناه غوښتنه نشئ کولی. پریفیکتور تاسې ته د «دوبلین کړنلارې procédure Dublin ا ونډ د پناه غوښتنې ځانګړې تصدیق» دروکوي؛
- تاسې د نورو ټولو پناه غوښتونکو په څېر حق لرئ (د پناه غوښتونکو مالي مرسته، د روغتیا اسانتیاوې، د ماشومانو زده کړې او داسې نور). د اوسېدو په هلکه باید ووایو چې تاسې به د پناه غوښتونکو د هرکلي مرکز یا کادا کې نه اوسئ خو په بل ډول مرکز کې به اوسېږئ (رساله ۲)؛
- د دې بهیر په ځینې برخه کې دا شونې ده چې کور کې نظر بند اوسئ، او حتی هغه هېواد ته د لېږدولو د پاره مو بندي هم کړي چې ستاسې د پناه غوښتنې د څېړلو مسول دی. بندي کول مخ په زیاتېدو دي، او په ځانګړي ډول د ۲۰۱۸ کال د مارچ میاشتې ۲۰ نېټې د ۱۸۷-۲۰۱۸ قانون «چې د اروپا د پناه غوښتنې سیستم ښه عملي کولو ته لار پرانیزي» تر تصوییبدو وروسته زیات شوي. دا قانون د هغه و ګړو بندي کولو ته قانونې اجازه ورکوي چې د «دوبلین» کړنلاره پرې پلې کېږي او د دې کار دلیل هم دا ښايي چې تل د هغوي «د فرار یا تېښتې خورا د پام وړ خطر» شته.

## و. د «دوبلین» د لېږدولو د پرېکړې نه ګټل

کله چې ستاسې د پناه غوښتنې د ارزونې مسول دولت دې کار سره هوکړه وکړي، تاسې ته به د لېږدولو په اړه خبر درکړل شي. تاسې کولای شئ دا پرېکړه په اداري محکمه کې وننګوئ یعنې د هغې خلاف د بیا ارزونې عریضه وکړئ (د پرېکړې د ځنډولو د پاره د بیا څېړنې غوښتنه).

**ضرب الاجلونو یا مهلتونو ته پاملرنه:**

- وروسته د دې چې له پرېکړې خبر شئ، باید په ۱۵ ورځو کې دننه اداري محکمې ته ورشئ؛
- که بندي اوسئ یا په کور کې نظر بند اوسئ، د لېږد د پرېکړې څخه د خبرېدو وروسته په **۴۸ ساعتونو** کې دننه باید اداري محکمه کې نوموړې پرېکړه ووهل شي.

پاملرنه! د قانوني مرستې غوښتنه ضرب الاجل درولای نه شي.

په دې وخت کې تاسې بل هېواد ته نشي لېږدولای، په ځانګړې توګه تر هغه وخته چې قاضي پرېکړه ونه وي کړې.

هغه هېواد ته د لېږدولو پرېکړې خلاف د بیا ارزونې عریضه کول چې ستاسې د پناه غوښتنې د ارزونې مسول دی، د دوه ډوله تورې په څېر ده. **که د لېږدولو د پرېکړې خلاف د بیا ارزونې غوښتنه وکړئ، ستاسې د لېږدولو هغه ۶ میاشتینی مهلت چې پخوا د پناه غوښتنې د ارزونې مسول دولت د هوکړې د ورځې پیلېدو، اوس د محکمې تر پرېکړې وروسته د سره پیلېږي**. دا په دې معنی ده چې ۶ میاشتینی دوره د محکمې تر پرېکړې وروسته بېرته د «صفر نه پیلېږي». پام مو وي که د لېږدولو پرېکړې خبر درته د دې پروسې په پای کې درکړل شوی وي (د څلورمې یا پنځمې میاشت پای کې)، فرانسه د محکمې تر پرېکړې وروسته ستاسې د لېږدولو د پاره بیا ۶ میاشتې وخت لري.

که قاضي ستاسې د لېږد پرېکړه وبولي په رسمي دلیلونو لغوه کړي (د بېلګې په توګه، ځکه چې باید خبر درکړل شوی وو، هسې نه وو)، نو شوني ده چې پریفیکتور درته د خاورې د وتلو بل امر د محکمې دلیل په پام کې نیولو سره درکړي. که دا لغوه د اساسي دلیلونو له امله وي (د بېلګې په توګه، د فرانسې د اداري غلطۍ چې رغول کېدای نشي یا کوم هېواد چې ستاسې د لېږدونې غوښتنه دی هغې کې درسره ناوړه سلوک شوی یا دا چې نوموړي هېواد ستاسې د هرکلي وړتیا نه لري ځکه چې یو ناکام دولت ګڼل کېږي)، بیا پریفیکتور ستاسو د لېږد بل امر نشي کولای. ځکه نو، که قاضي د لېږدولو پرېکړه لغوه کړه او پریفیکتور ته یې امر وکړ چې ستاسې د پناه غوښتنلیک ثبت کړي نو پریفکتور مجبور دی چې دا امر پر ځای کړي.

که په یوه ناسته کې محکمې ستاسې د لېږد امر لغوه کړي هم وي، دا ښه ده چې د پناه غوښتنې بهیر د بیا پیل لپاره د ۶ میاشتینی دورې تر پای ته رسېدو مخکې پریفیکتور ته لاړ نه شئ. په هر صورت، مخکې تر هلته تللو د یو وکیل یا یوې ټولنې سره په اړیکه کې شئ.

که مخکې مو بل هېواد ته د لېږد د پاره جلب پاڼه تر لاسه کړې وه او اوس هغه پرېکړه محکمې لغوه کړه، نو د قانون له مخې تاسې پریفیکتور ته په ورتګ مجبور نه یئ. خو که تاسې دې لیدنې ته ورنه شئ، ډېرې وخت مو پریفیکتور فراری اعلانوي او د پناه غوښتونکو مالي مرسته یا ادا له لاسه ورکوئ (و ګورئ رساله ۳ – فرار یا تېښته).

پاملرنه! د لېږد د پرېکړې په وخت کې، ځینې پریفیکتورونه پناه غوښتونکي په مستقیم ډول اداري محکمې ته د بیا څېړنې عریضې کولو د پاره لېږي. هغوی ته یو کوچنی فورم د لاسلیکولو د پاره ورکول کېږي چې په فرانسوي ژبه وي. وروسته یو وکیل ته دنده ورکول کېږي (چې ښایي د دې قضیې په اړوند معلومات نه لري) چې د نوموړي پناه غوښتونکي په نه شتون کې او د هغې په اړوند کمو معلوماتو په درلودلو سره، د بیا څېړنې قضیه په مخ ویسي.

وروسته له څو هفتو، د یو لیک له لارې د محکمې پرېکړه - چې ډېرې وخت یې عریضه رد کړې وي - پناه غوښتونکي ته ور استول کېږي.

دا اړینه ده چې د خپل وکیل سره وګورئ او هغه مهم معلومات ورکړئ چې د محکمې په پرېکړه اغېز کولای شي؛ که هغه تاسې سره اړیکه ونه نیسي، هڅه وکړئ د محکمې راجستر کولو برخې سره اړیکه کې شئ چې د ناستې ورځ پیدا کړئ. دا ورځ ډېری وخت د بیا ارزونې د عریضې کولو څو ورځې وروسته وي.

که تاسې خپله او یا پریفیکتور د محکمې پرېکړه ووهل شي، هغه مهلت نه زیاتېږي له کوم وروسته چې فرانسه مو د پناه غوښتنې د ارزونې مسوله کېږي؛ پریفیکتور باید هغه غوښتنه د عادي کړنلارې normale لاندې ثبت کړي.

که محکمه مو د بیا څېړنې غوښتنه رد کړي او تاسو غوا یئ دا پرېکړه ووهل شي، باید پوه شئ چې د محکمې ځواب ډېر وخت نیسي. که امکانات لرئ نو دا کار ټول تمامېدای شي، په تېره بیا که وروسته مو «فراري» اعلانوي.

## <u>ز. په کور کې د نظر بندۍ په اړه د بیا ارزونې غوښتنه</u>

که په کور کې نظر بند اوسئ، په عمومي توګه مجبور یاستئ چې اونۍ کې دوه یا څو ځلې د لاسلیک د پاره د پولیسو ماموریت ته ورشئ.

که غوا ړۍ یوه شئ چې د نیوني خطر شته که نه، د پولیسو ماموریت ته تر تللو د مخه یوې ټولنې یا انجمن نه پوښتنه وکړئ، ځکه هلته نه ورتګ ډېر جدي پایلې درلودی شي (۱۸ میاشتې انتظار بې له دې چې فرانسه کې د پناه غوښتنې حق ولرئ).

دا شوني ده چې په کور کې د نظر بندۍ خلاف د بیا ارزوني غوښتنه هغسې پایلې ولري کومې چې بل هېواد ته د لېږدولو پرېکړې خلاف د بیا ارزونې غوښتنه یې لري (د محکمې تر پرېکړې وروسته ۶ میاشتې مهلت بیا د سره پیلېږي).

**پاملرنه:** د پریفیکتورونو کې یې په خورا چټکۍ سره بدلېږي ځکه هغوي ځانګړې لېوالتیا لري چې ډېر کسان نورو هېوادو ته ولېږدوي او یا یې «فراري» اعلان کړي. تاسو دې ته مجبورېږئ چې د ضرب الاجلونو تر منځ غوراوی وکړئ (د بیا ارزونې غوښتنه، جلب پاڼه)، چې پریفیکتور ته په کتو سره ډېرې جدي یا کمې جدي پایلې درلودی شي (نیونه، فراري اعلانول).

تاسو د اېل-دُ-فرانس په پریفیکتورنو کې مختلف چلندونه کتلی شئ.

**یادونه:** که د پناه غوښتنې د ارزونې مسول هېواد مو د غوښتنې د ارزونې سره هوکړه وکړي او تاسي په ۶ میاشتو کې ونه لېږدول شئ (او د «فرار» په حالت کې هم نه اوسئ)، فرانسه مو د پناه غوښتنې د ارزونې مسوله ګرځي. په بېلو سیمو کې د پناه غوښتونکو لومړنۍ هرکلي دفتر سپادا SPADA یا پریفیکتور ته ور تلی شئ (د پاریس په سیمه کې، بې له دې چې د اوفي له خوا فعاله شوې شمېرې ته زنګ ووهئ، په مستقیم ډول سپادا ته تلی شئ). تاسي کولای شئ د یوې ټولنې سره مشوره وکړئ.

## ح. هغه کسان چې بل هېواد ته تر لېږدولو وروسته بېرته فرانسې ته راځي

که د اروپایي اتحادیې غړي هېواد ته تر لېږدولو وروسته بېرته فرانسې ته راشئ، څو حالتونه شوني دي:

- پریفیکتور مو دویم ځل د پناه غوښتنې د ثبتولو انکار کوي. که داسې وي نو یوې ټولنې سره اړیکه کې شئ چې د دې کار خلاف قانوني ګامونه پورته کړي؛
- پریفیکتور مو غوښتنه ثبتوي خو تاسي باندې د «دوبلین» کړلاره پلې کوي. داسې ښکاري چې پریفیکتورونه هڅول شوي چې دا کار وکړي.

دا شوني ده چې پریفیکتور ته وښایئ چې تاسو د هغه هېواد د خاورې وتلو امر شوی وو کوم ته چې لېږدول شوي وئ، یا یې ورته تشریح کړئ چې د هغه هېواد چارواکو اړ ویستئ چې بېرته فرانسې ته ستانه شئ. که څه ثبوت درسره وي، هغه پریفیکتور ته وښایئ (د هغه هېواد له خوا د خاورې د وتلو امر، عکسونه...او داسې نور). دا هم درته ګټور کېدی شي چې داسې ثبوت ور ښکاره کړئ چې په فرانسه کې اړیکې لرئ. هڅه وکړئ دې لیدني ته دې داسې څوک درسره لا ړشي چې په فرانسوي ژبه ښه پوهېږي او هغوي ته هرڅه پوره تشریح کړي. پام مو وي چې د هغه بل هېواد د ترک خاک یوه کاپي درسره وساتئ ځکه چې ځینې پریفیکتورونه د هغې اصلي در څخه اخلي. که پریفیکتور هغه له پامه وغورځوي، تاسې کولای شئ دا ثبوت هغه مهال قاضي ته ور ښکاره کړئ چې بل هېواد ته مو د لېږدولو پرېکړه محکمه کې ننګوئ.

- پریفیکتور مو د پناه غوښتنه ثبتوي خو چټکه کړلاره accélérée درباندې پلې کوي او دلیل یې دا وي چې «تاسي د دوبلین له کړلارې سرغړونه کړې ده». که بیا درته اوفي د پناه غوښتونکو مالي مرسته یا ادا له درکولو ډډه وکړي، نو د یوې ټولنې سره په اړیکه کې شئ چې د اوفي د دې کړنې خلاف قانوني ګام پورته کړي؛
- او په اخر کې، تر ټولو غوره کار دا کېدی شي چې پریفیکتور مو د پناه غوښتنه ثبت کړي او عادي کړلاره normale در باندې پلې کړي. چې ورسره د اوفپرا فورم یا د کیس کتابچه درکوي.

هغه جنایي جزا ګانې چې په نورو قضیو کې ورکول کېدلې، اوس په هغو کسانو هم پلې کېږي چې د «دوبلین» کړلارې لاندې دي (Ceseda، ماده .L 624-3): محکمه ټولو هغو کسانو ته د ۳ کالو بند سزا ورکولی شي چې بل هېواد ته د لېږد پرېکړې پلې کولو نه یې یا ډډه کړې او یا یې هڅه کړې چې ډډه ترې وکړي. د دې کار موخه په ځانګړې ډول هغه خلک دي بل هېواد ته تر لېږد وروسته بېرته فرانسې ته ستنېږي. همدارنګه، هغه خلک چې بل هېواد ته تر لېږد وروسته بیا فرانسې ته بې د اجازې داخلېږي، د بند ۳ کاله سزا ورکول کېږي.

# IV. په اوفپرا کې د پناه غوښتنه

## الف. اوفپرا (د فرانسې د کډوالو او بې وطنو د ساتنې اداره) ته د پناه غوښتنلیک سپارل

پریفیکتور کې د لیدنې تر وعدې وروسته، تاسې باید د اوفپرا د پناه غوښتنې فورم (کیس کتابچه) په فرانسوي ژبه ډک کړئ. دا مهم او لازمي کار نه شي. د نومونې فورم تر لاسه کولو سره باید په ۲۱ ورځو کې دننه دا فورم د رسید لرونکي راجستري خط له لارې اوفپرا ته ولېږئ او یا یې خپله ورو ړئ (رساله ۱-۲). (پاملرنه: د دویم غوښتنلیک سپارلو لپاره یوازې ۸ ورځې وخت لرئ).

**یادونه:** تاسې ته دا مشوره درکول کېږي چې د اوفپرا فورم د رسید لرونکي راجستري خط له لارې اوفپرا ته واستوئ چې دې کار سره د خپلې دوسیې د استولو ثبوت تر لاسه کوئ. که دوسیه مو پوره وي، اوفپرا هم تاسې ته یو لیک را لېږي او ور کې بې ویلي وي چې ستاسې دوسیه هغوي ته ور رسېده. د پناه غوښتنې تصدیق attestation de demande د نوي کولو د پاره تاسې د اوفپرا دې لیک ته اړتیا لرئ. که دا لیک و ځنډېږي نو د خپل تصدیق د نوي کولو د پاره تاسې د هغه رسید فوتوکاپي پریفیکتور ته ورکوئ، کوم مو چې د خپلې دوسیې د استولو نه تر لاسه کړی وو.

د اوفپرا د فورم سره دوه نوي عکسونه، د پناه غوښتنې د تصدیق فوتوکاپي او هر سند چې ستاسې کیسې ته ګټور وي (لاندې و ګورئ)، یو ځای ولېږئ. که پاسپورت ولرئ باید د هغې اصل هم ولېږئ.

**پاملرنه:** تاسې باید د ټولې دوسیې یوه فوتوکاپي د ځان د پاره وساتئ (د اوفپرا فورم، ستاسې کیسه، نور اسناد چې تاسې د فورم سره لېږلي).

که اوفپرا ستاسې دوسیه پوره وګڼي نو درته «د پناه غوښتنلیک د ثبتونې خط» lettre d'enregistrement de demande d'asile در لېږي.

**پاملرنه:** د اداري لګښت او پوستي خطونو له امله د ځینې کمولو د پاره، اوفپرا اوس کولای شي په غیرفزیکي ډول (بې د کاغذ) خپلې پرېکړې اعلان کړي لکه قبلول یا ردول، د ساتنې څخه انکار کول، د دوسیې تړل، د هغې بېرته اخیستل، د بې وطنو خلکو نه ساتنه کول یا یې ردول. مخکې اوفپرا خپلې پرېکړې یوازې د رسید لرونکي راجستري خط له لارې د غوښتنلیک خاوند ته لیږلی شوې، چې هغوي به دا لیکونه خپل استو ګځې کې او یا خپل آدرس کې تر لاسه کول.

**نوی: آفرا (Ofpra) د یو خوندي پېجې ځ شخصي ځای رامینځته کولو په درشل کې دی کوم چې تاسو ته د ټولو پریکړو نه خبریدو امکان درکوي. بیا به کارونکي د پور ځ سره وصل کیدو لپاره د محرم ا ړیکې کیلي ترلاسه کړي:**

*https://www.ofpra.gouv.fr.*

د دې دیجیټلي دروازې څخه تیریدل اجباري کیږي دا آفرا (Ofpra)- ته اجازه ورکوي چې شخصي مرکې ته د دوی د بلنې په ا ړیناه غوښـتونکو تـه خبر ورکړي ، بلکه د هغې پریکړې په ا ړ (د رد او یا منل کیدل پریکړې، د نه منلو پریکړې ، بندول ، د کډوالۍ حالت نه وتل ، او د تابعیت ورکول یـا رد کـول) دوی با خبر کړي.

فرمان مشخص کوي چې د پناه غوښتنې د څېړنې ا ړوند نور لیکونه او اسناد هم پدې پور ځ کې لیږدول کیدای شي.

### ۱. د اوفپرا د فورم بېلې برخې

- **د مدني حالت برخه: مهرباني وکړئ د مدني حالت ا ړوند برخه په پوره ځیر سره ډکه کړئ**، ځکه که غلطي در څخه وشي او بیا د هغې سمونې د پاره له ځارنوال څخه غوښتنه کولی شئ خو ځواب یې ډېر وخت نیسي؛
- **د کورنۍ د غړو برخه:** که فرانسې ته یوازې راغلي یاستئ او بیا غواړئ چې کورنۍ مو هم راولئ، دا برخه ډېره مهمه ده (رساله ۹)؛
- **د راتګ د لارې برخه:** هم هغه معلومات بیا ولیکئ کوم مو چې پادا ته ورکړي وو، په ځانګړې ډول فرانسې ته د را رسیدو نېټه مهمه ده؛
- باید دقیق ولیکئ **چې په کومه ژبه خبرې کوئ** ځکه چې اوفپرا بیا د مرکې په وخت کې درته د همدې ژبې ژبا ړونکی یا ترجمان را غوا ړي: د خپلې مورنۍ ژبې ژبا ړونکي غوښتنه وکړئ (خپله «لهجه» هم ولیکئ). **هغه ژبه مه لیکئ چې سمې خبرې پرې نشئ کولای.**
- **ستاسې د کیسې برخه:** دا تر ټولو مهمه برخه ده ځکه د پناه غوښتنه **ستاسې د ژوند د کیسې او ځورونې او ربړونې څخه د وېرې په اساس د ساتنې غوښتنه ده** (لاندې و ګورئ).

د اوفپرا فورم (د مرکزي تر ورځې) ډکولای شئ. تاسي باید ټول هغه معلومات او د اسنادو فوتوکاپي چې ستاسي په نظر مو د ځورونې او ربړونې یعنې شکنجې څخه د ډار د ثبوت لپاره ګټور دي، د رسید لرونکي راجستري خط له لارې اوفپرا ته ولېږئ.

یادونه: دا اړینه ده چې د پتې د بدلېدو په صورت کې اوفپرا ته د رسید لرونکي راجستري خط له لارې خبر وکړئ.

## ۲. د اوفپرا له خوا د پناه غوښتنلیک بندول

- که د مناسب دلیل پرته د اوفپرا فورم په ۲۱ روځو کې ونه لیږئ، اوفپرا له تاسو غوا ړي چې په ۸ ورځو کې دننه یې ور ولېږئ. که دا وخت هم در څخه تېر شي، اوفپرا ستاسي د پناه غوښتنې دوسیه تړلې اعلانوي. د پتې بدلېدل یا مهمه ناروغي «مناسب دلیل» کېدی شي؛
- که په «مناسبه موده» کې خپله پته اوفپرا ته ونه لیږئ، د اوفپرا د پرېکړې اعلانولو نېټه هم هغه د خبرتیا ور ځ ګڼل کېږي په کومې چې اوفپرا تاسې ته د سم آدرس نه شتون له امله خط نشو استولی؛
- که تاسې د خپلې کیسې، خپلې پېژند ګلوي، خپل تابعیت، او داسې نورو معلوماتو د ورکولو نه انکار وکړئ، یا په مناسبه موده کې د خپلې پتې یا پوستي آدرس په اړه اوفپرا ته خبر ور نه کړئ او د پناه غوښتنې د دوسیې د ارزونې لپاره اوفپرا درسره اړیکه ونشي نیولای، نو بیا دا اداره ستاسې دوسیه بندوي.

د دوسیې تر بندیدو ۹ میاشتې وروسته، تاسې د دوسیې د بیا پرانیستلو غوښتنه کولای شئ.

## ۳. اوفپرا کولای شي ستاسې د دوسیې د منلو څخه انکار وکړي

- که د اروپایي اتحادیې په بل ملک کې د کډوال په توګه پېژندل شوي یاست (په دې شرط چې د هغوي له خوا ساتنه ریښتوني وي او هغه هېواد ستاسې بیا منلو ته چمتو وي)؛
- که دا ثابته نشئ کړای چې څه «نوې واقعه» شوې او د پناه غوښتنې دوسیې د بیا ارزونې عریضه وکړئ. دا نوې واقعه باید ستاسو ستونځو سره تړلې ولري او د ځورونې او ربړونې څخه ستاسې «ویره» ریښتونې ثابته کړي. دا واقعه باید د پناه غوښتنې ملي محکمې تر پرېکړې وروسته را منځته شوې وي (رساله ۵) که نه باید ثابته کړئ چې د دې واقعې څخه مو د محکمې تر مخه خبر نه درلود.

## ۴. اوفپرا ستاسې دوسیه چټکه کړنلاره accélérée کې راوستلای شي

په چټکه کړنلاره کې ستاسو د راوستو پرېکړه به لا وار د مخه په ګډا کې شوې وي (که څه هم دا پرېکړه په رسمي ډول د اوفپرا ده) که د یو «خوندي هېواد» اوسئ یا د پناه دویمه غوښتنه مو کړې وي (بیا ارزونه). د اوفپرا د فورم تر لاسه کولو وروسته، اوفپرا بیا هم کولای شي دا پرېکړه وکړي چې تاسې په چټکه کړنلاره کې راولي (Ceseda، ماده 2-723 .L):

- د «درغلی» په صورت کې: غلطې څرګونې، جعلي اسناد، د بېلو پېژند ګلویو لاندې د پناه غوښتنې څو غوښتنلیکونو ثبتول...او داسې نور؛
- که څرګونې مو «د قناعت وړنه وي یا ضد او نقیضې» وي.

سربېره پر دې قضیو او هغه ۲ قضیو چې په اوتوماتیک ډول په یو کس باندې چټکه کړنلاره پلې کېږي، د ولایت مقام هم کولای شي د یو کس دوسیه تر چټکې کړنلارې لاندې راولي (رساله ۱-۲).

د دې پېچلو قضیو په اړه د حکومت له خوا جوړشوی د پناه غوښتونکو لارښود (په بېلابېلو ژبو) وګورئ.

## ۵. د بې برخې کولو او پای ته رسولو قانوني فقرې

که اوفپرا پوه شي چې تاسې د بې برخې کولو او پای ته رسولو فقرو کې راغلي یئ (Ceseda، ماده 3-711 .L) نو په خپل او یا د پریفیکتور په نوبت، ستاسې ساتنې ته پای ورکوي. دې حالتونو کې اوفپرا مسوله ده چې ستاسې ساتنه رد او یا ورته پای ورکړي (Ceseda، ماده 6-711 .L):

- که په داسې جنایي جرم محکوم شوي یئ چې په فرانسه کې، د اروپایي اتحادیې بل غړي هېواد کې او یا په «دریم دیموکراتیک هېواد» کې ورته ۱۰ کاله زنداني کېدو سزا ټاکل شوي وي؛
- که په ترهه اچونې یا تروریستي کړنو محکوم شئ؛

- او په پای کې، که فرانسه کې مو شتون د هېواد امنیت ته جدي ګواښ وي، مهمه نه ده چې د قانوني تعقیب لاندې اوسئ که نه او/یا په جنایي جرم محکوم شوي اوسئ که نه. دا کېدای شي د فرانسې امنیت یا ټولنې لپاره یو جدي ګواښ وي، او یا یو جرم یا سرغړونه وي چې تروریزم کې راځي. د دې وروستیو دوه فرضیو په اساس، نومو ړی کس باید ټولنې ته یو جدي ګواښ اوسي.

## ب. د پناه غوښتنې کیسه

د دې کیسې له مخې باید اوفپرا په دې وپوهېږي چې تاسې د کومې والی د حالت مستحق یئ او که فرعي ساتنې ( پا ګام یا ګاف).

په خپلې کیسې کې باید لاندې موضوع ګانې په دقیق ډول تشریح کړئ:

- تاسې څوک یئ؛
- د کوم ځای یئ؛
- ولې د خپل هېواد پرېښودو او بل هېواد کې د پناه غوښتلو ته مجبور شوي یئ؛

**او باید وواياست چې خپل هېواد ته د بېرته ستنېدو په صورت کې د څه شي ډار لرئ؛ او که خپل هېواد ته ستانه شئ نو کومې جدي ستونځې ستاسې ژوند او امنیت ته ګواښ پېښولی شي.**

**ستاسې هېواد کې د کړکېچن حالت یا د جنګ شتون په اړه تشریح ورکول بسنه نه کوي**: باید د خپل شخصي ژوند کیسه وکړئ او اورېدونکي ته قناعت ورکړئ چې تاسې ربړول (شکنجه) شوي وئ او یا ستاسې د کورنۍ غړي، خپلوان یا ملګري وژل شوي یا ربړول شوي وو، او دې ستونځو ستاسې ژوند ته هم خطر پېښ کړی وو.

یادونه: که تاسې په فرانسوي ژبه خبرې نه کوئ نو باید داسې څوک را پیدا کړئ چې کیسه مو په فرانسوي وژباړي یعنی ترجمه کړي. که ژباړه یا لیکنه ستاسې په ژبه وه نو په خپلې کیسې کې یې وواياست.
د اوفپرا په مرکې او د محکمې په ناسته کې هغه چا لپاره ژباړونکي را بلل کېږي چې په فرانسوي ژبه خبرې نشي کولای، خو د کیسې د ژباړې لپاره ژباړونکی نه وي.

### ۱. تاسې څوک یاست؟ ووایئ:

- ستاسې پوره نوم، تابعیت، د زېږېدلو نېټه او ځای؛
- د کوم هېواد یئ او یا په دقیق ډول د کومې سیمې، کوم کلي یا د ښار د کومې ناحیې یاست (اوفپرا تاسې نه په دې اړه پوښتنې کوي ترڅو چې باوري شي چې د همدې سیمې یئ)؛
- ستاسې مور او پلار، ورونه او خویندې څوک وو یا څوک دي (د هغوي په اړه پوره معلومات ورکړئ: نوم، عمر، د اوسېدو ځای، دنده، آیا واده یې کړی...)؛
- د یو ځانګړي توکم، مذهبي ګروپ، یا د لږه کیو سره ستاسې تړاو چې د تبعیض ښکار وي؛
- ستاسې مدني حالت: متاهل، واده پرته کړژوند، مجرد، ماشومان (هلکان دي که نجونې، څو کلن دي). دا هم ووایئ چې د کورنۍ غړي مو فرانسه کې دي، په خپل هېواد کې دي او که نادرکه شوي دي.

### ۲. ستاسې شخصي کیسه څه ده:

- ماشومتوب مو چېرې او څنګه تېر کړی دی؛
- ښوونځی، لوړې زده کړې، د کوم کسب شاګردي؛
- هغه فعالیتون چې تاسې خپل هېواد کې درلودل، ستاسې د سرچینو ریښې او کچه (سوداګري، څمکه، لاسي صنعت، کوم بل کسب)؛
- هغه ځایونه چې هلته اوسېدلي یئ او د هغوي د بدلولو دلیلونه؛
- ستاسې شخصي او کورنی حالت: مسلک، د خپل مېرمنې/خاوند سره لومړی لیدنه، د ماشومانو زېږېدل، ناروغی؛
- ستاسې نور فعالیتونه: د سیاسي ګوند، اتحادیې، مذهبي ډلې، قومي ډلې، مدني ټولنې غړیتوب...(دا ډله تشریح کړئ، د هغې اهمیت، موخې او ځانګړیاوي تشریح کړئ)؛
- دې ډلې یا اتحادیې سره څنګه یو ځای شوئ...ستاسې دقیق رول څه وو، د مسولیت کچه (عادي غړی یا فعال غړی)؛
- ستاسې ګډون په لاریونونو کې، عامه غونډې، ډله ییزو فعالیتونو، ټولنیزو حرکتونو، چریکي...(کوم ځانګړي فعالیتونه مو درلودل، د چا سره، څو ځلې)؛

- د خپلې کیسې له مخې، ووایئ چې آیا ستاسې د فعالیتونو، جنسي تمایل، توکم یا د زور واده سره مخالفت...له امله د تعصب، ځورونې او ربړونې سره مخ شوي وئ.

یادونه: که تاسې د وسلوالې ډلې غړیتوب درلود او کوم جرم مو کړی وي نو فرانسه کولای شي د پناه غوښتنه مو رد کړي.

**۳. کومو حادثو او خواشینونکو پېښو د خپل هېواد پرېښودو ته اړ ویستلئ:**

- درته شوي ګواښونه (چا؟ کله؟ څنګه؟)؛
- ستاسې د مسلکي او غیر مسلکي فعالیتونو مخنیوی؛
- په زور اخیستل، د شتمنۍ ضبط کول، شوکه کول، د بدنامولو د لارې په واسطه درڅخه څه اخیستل، او نور بېلابېل فشارونه؛
- برید کول، د شتمنۍ ویجاړول، د کوره ویستل؛
- بند، تاوتریخوالي سره مله تحقیقات، وهل ټکول، ربړول، تېری کول (نېټې، څرنګوالی، چا دا کار کړی)؛
- محاکمه، په جرم محکومېدل، بند کې وخت تېرول (نېټې، د ځایونو په اړه پوره معلومات، د تر سره کونکو په اړه پوره معلومات)؛
- ستاسې د مور او پلار، ملګرو، همکارانو، او د هغه ډلې د ملګرو بندي کېدل، زخمي کېدل یا وژل کېدل چې تاسو یې غړیتوب درلود؛
- جبري یو مخیز لېږد؛
- ټولوژنه، نسل وژنه.

**مهم:** څومره چې شونې وي ټولې حادثې په تفصیل سره ووایاست. په دقیق ډول هغه خلک ور وپېژنئ چې تاسې یې ځورولي او ربړولي وئ، د خپل ځان د دفاع لپاره مو کوم کارونه کړي وو، کومه مرسته در سره شوې وه...

- د دې لپاره چې د خپل هېواد له چارواکو وغواړئ چې ستاسو ساتنه وکړي، کوم کارونه مو تر سره کړي وو (عریضه، محکمې ته ورتګ، د خطونو لېږل، د چارواکو سره لیدل...)؛
- د دې کارونه پایله څه وه.

یادونه: که فزیکي او/یا رواني ستونځې مو پېدا کړې وي، د طبي تصدیق چمتو کول خورا مهم دي، حتی که دا تصدیق مو اوس اوس هم جوړ کړی وي.

**۴. له کومې لارې فرانسې ته راغلي یاست:**

- هغه کوم وخت وو چې تاسې پرېکړه وکړه چې خپل هېواد نور پرېږدئ؛
- دا کار مو څنګه را جوړ کړ (د پیسو برابرول، د مرستې تر لاسه کول، د قاچاقبر سره اړیکه نیول...)؛
- هغه هېواد مو څنګه انتخاب کړ چې ورکې مو د ساتنې غوښتنه کړې ده (ولې؟)؛
- د نېټې سره د لارې دقیق معلومات، بېلابېل پړاوونه، کوم ټرانسپورټي وسایلو مو کارولي، لګښت.

**۵. که نن خپل هېواد ته ستانه شئ نو په تاسې به څه وشي:**

- تر راتګ وروسته مو په سیمه کې څه بدلون راغلی دی؛
- آیا بیا هم دا شونې ده چې هغې ربړونې سره مخ شئ کومه مو چې پخوا لیدلې وه؟ کوم ګواښونه چې در ته شوي آیا هغه به عملي شي؛
- نظر د ستاسې په څېر کسانو، ستاسې له خوا د هېواد د پرېښودلو مخکې یا وروسته د کوم برخلیلک سره مو چې مور او پلار او نور خپلوان مخ شوي او یا مړه شوي، آیا دا شونې ده چې تاسې هم هغه برخلیک سره مخ شئ؛
- تاسې ولې د خپل هېواد په یو بل ښار یا بله سیمه کې خوندي نه اوسئ.

**مهم:** باید هغه لاره واضحه بیان کړئ چې خپل هېواد ته ستنېدو په صورت کې به یې نن هم لرئ (حتی که ډېر وخت هم کېږي چې خپل هېواد مو پرېښی دی).

**۶. د خپلې کیسې سره ثبوتونه یو ځای کړئ:**

تاسې مجبور نه یئ چې د خپلې کیسې هرې برخې اړوند ثبوتونه او تصدیقونه وړاندې کړئ: **مهمه دا ده چې کیسه مو پوره دقیقه، په ترتیب، پرته له تضاد، او د اعتبار وړ وي او د اوفپرا د کارکونکي ته قناعت ورکړي.**

همدارنګه د خپلې کیسې سره تړل هغه اسناد هم یو ځای کړئ چې ستاسې د دوسیې اعتبار زیاتوي (لیکلي شواهد، اداري اسناد، رسنیزې مقالې، طبي تصدیقونه...).

**پاملرنه:** هیڅ کله اصلي اسناد د پناه غوښتنې دوسیې سره مه لیږئ (یواځې فوټوکاپي ور سره لیږئ). که اصلي اسناد در سره وي هغه یواځې د مرکې یا انټرویو په وخت کې ور ښکاره کړئ.

## ج. د اوفپرا د ساتنې د افسر سره مرکه

### ۱. د اوفپرا سره د مرکې د پاره جلب پاڼه یا احضار پاڼه

د مرکې څخه کم تر کمه ۱۵ ورځې مخکې به تاسې ته جلب پاڼه یا احضار پاڼه convocation راشي.

**خبرداری! تاسو به د آفرا (Ofpra) کارونکي پورټ له لارې د بلنې خبر شئ:** [*https://www.ofpra.gouv.fr*](https://www.ofpra.gouv.fr)

پاملرنه! جلب پاڼه د هرې وسیلې (ایمیل، ټیلیفوني پیغام، خط، او داسې نورو) له لارې درته لیږل کېدای شي؛ دا اړینه ده چې تل مو پام وي، او تر ټولو مهمه دا ده چې د موبایل شمېرې یا ایمیل د بدلولو په صورت کې اوفپرا ته خبر ورکړئ.

دا شونې ده چې اوفپرا مو شخصي مرکې ته د را غوښتلو اړه ونه کړي:

- که ستاسې په اړه پرېکړه وکړي او د کډوال حیثیت درکړي (چې ډېر کم وخت داسې کېږي)؛
- که له وسې پورته سختو روغتیایي ستونځو سره مخ یاست او په مرکه کې ګډون نشئ کولای. په دې صورت کې باید ژر تر ژره اوفپرا ته په دې اړه ټول طبي اسناد د رسید لرونکي راجستري خط له لارې ور ولېږئ.

که اوفپرا پرېکړه وکړي چې ستاسې غوښتنه د منلو وړ نه ده او یا پرېکړه وکړي چې دوسیه مو وتړي (پورته معلومات وګورئ)، نو تاسې مرکې ته نه را غواړي.

که تاسې د کوم مناسب دلیل پرته مرکې ته را نه شئ، اوفپرا کولای شي چې ستاسې د پناه غوښتنه رد کړي او دوسیه مو بې د ارزونې بنده کړي.

که تاسو په کاډا (Cada) یا هودا (Huda) کې اوسئ ، د آفرا (Ofpra) ساتنې لپاره د ترانسپورت لګښتونه باید ورکړل شي (په بیله بیا CNDA ته د رسیدو لګښتونه).

د هغه خلکو لپاره چې په دې ډول ځایونو کې نه اوسېږي ، دا امکان لري چې (Ofii) ته د ملاتړ غوښتنه ولیږي، مګر ، ځیری وخت دا په پام کې نیسي چې (ADA) د دې ډول لګښتونو پوښلو لپاره کافي دی.

### ۲. د پیټې مرکې تر سره کول

**مرکه خورا مهمه ده**: دا مرکه د ستاتنې د افسر له خوا تر سره کېږي. د نوموړي دنده دا ده چې ستاسې د پناه غوښتنه وارزوي او د هغې په اړه مثبته یا منفي پرېکړه وکړي.

مخکې له دې چې د اوفپرا مرکز ته ورشئ، دا اړینه ده چې د یوې ټولنې یا ملګرو سره ځان دې مرکې ته چمتو کړئ. مرکه ډېره مهمه ده ځکه همدا وخت دی چې د هر څه په اړه پرېکړه کېږي: **باید د اوفپرا د ساتنې افسر ته دا قناعت ورکړئ چې ستاسې ژوند په خطر کې دی او ساتنې ته اړتیا لرئ.**

**یادونه**: مرکه په فونټې سوس بویس (Fontenay-sous-Bois) کې د آفرا (Ofpra) دفترونو کې ترسره کیدی شي ، په ځانګړي ښارونو کې د آفرا د نندارتونونو ماموریتونو پرمهال یا په استثنایی ډول د ویډیو اوریدلو سره.

ستاسي د پناه غوښتنې کيسې په ا ړ لا بشپړه برخه کې په ياد ولرئ. د اوفپرا د ساتنې افسر در څخه پوښتنې کوي. که هغه درنه پوښتنې ونه کړي نو تاسې يې ورته په خپله ووايئ چې کومو پېښو خپل هېواد پرېښودو ته ا ړ ويستئ (پورته معلومات وګورئ).

که تاسې سره پاسپورټ يا تذکره نه وي نو خورا مهمه ده چې د خپل تابعيت ثابتولو لپاره د خپل هېواد (خپله سيمه، خپل ښار، خپله ناحيه، خپل رواج، جغرافيا...) په ا ړ دقيق معلومات ورکړئ.

**مهم:** هغه څه باید واضح کړئ چې که **نن** هم خپل هېواد ته ستانه شئ نو ترینه ویره لرئ (حتی که د هېواد د پرېښودو مو ډېر وخت هم کېږي). په عمومي ډول، د اوفپرا د ساتنې افسر د مرکې په پای کې در څخه یوه «پرانیستې» پوښتنه کوي ترڅو تاسې ته دا اجازه درکړي چې خپلې دوسيې ته نور معلومات ور زيات او يا خپلې ځرګندونې بشپړې کړئ. که تاسې د ویلو د پاره نور څه هم لرئ نو د مرکې په پای کې يې ووایاست.

**مرکه د اوفپرا په دفترونو کې** (په استثنايي ډول د تلويزوني کنفرانس له لارې) **د لاندې خلکو په شتون کې تر سره کېږي:**

- **تاسې په خپله.**
- **د اوفپرا د ساتنې افسر.** که ستاسې کيسه د جنسي تاوتريخوالي په بنياد وي نو د مرکې د پاره د داسې افسر غوښتنه کولای شئ چې تاسې سره يې جنس يو ډول وي (غوښتنه بايد د خط يا ايميل له لارې وشي).
- **وکيل (په خپل لګښت) يا د ستاسې په غوښتنه د کومې ټولنې غړی.** په ۲۰۲۰ کې ، ۲۷ اتحاديې واک لري چې د آفرا (Ofpra) مرکو په جريان کې ستاسو ملاتړ وکړي ، پشمول د: ارديس (Ardhis) ، اناف ( Anafé) ، سيما ډ(Cimade)، د کډوالۍ فورم (Forum Refugee)، په فرانسه کې د ليسبين همغږي (Coordination Lesbian in France)، د ليس ليسبينز د سرحدونو څخه هاخوا شبکه (Les Lesbiennes Beyond Borders)، د مالټا امر (l'Ordre de Malte).

  www.ofpra.gouv.fr/sites/default/files/atoms/files/180824__liste_des_associations_habilitees.pdf

  دا اتحاديې ، په عموم کې ، د هغو ټولو خلکو ملاتړ کوي چې د دوی دفترونو ته ورځي.

- **ژبا ړونکی** يا ترجمان چې د اوفپرا په فورم کې يې يادونه شوې ده. غوره دا ده چې په خپله ژبه کې د ژبا ړونکي غوښتنه وکړئ (خپله لهجه هم وليکئ). دا کار به د دې مخه ونيسي چې د اوفپرا د ساتنې افسر خبرې دې په مستقيم ډول په داسې ژبه وژبا ړل شي چې تاسې پرې ښه پوهېږئ.
  ژبا ړو ر ړا ده. که ستاسې کيسه د جنسي تاوتريخوالي په بنياد وي نو د مرکې لپاره د داسې افسر غوښتنه کولای شئ چې تاسې سره يې جنس يو ډول وي.
- **ستاسې د کورنۍ غړي:** اصل کې د کورنۍ د غړو پرته تاسې سره مرکه کېږي. خو که اوفپرا يې وغواړي نو د ستاسې د کورنۍ د غړو په شتون کې يوه اضافي مرکه در سره کوي.

يادونه: دا مرکه ثبت کېږي خو ښوا ځې په هغه حالت کې نه ثبتېږي که شونتيا يې نه وي. تاسې ته به خبر درکړ ړشي. تاسې دې ثبت شوې مرکې ته لاسرسی لرئ. مرکه د ليکل شوي راپور په شکل (چې د تغير و ړنه وي) برابرېږي او د پرېکړې سره يو ځای تاسې ته لېږل کېږي.

## ۳. د اوفپرا ارزونه او پرېکړ ړ

په اصل کې بايد اوفپرا د مرکې نه ۳ مياشتې تېرېدو پورې خپله پرېکړ ړه اعلان کړي، خو کېدای شي چې دا موده اوږده شي. په چټکه کړنلاره کې دا موده ۱۵ ورځې ده.

د اوفپرا د ساتنې افسر دا ګوري چې آيا کيسه مو د هېواد له حالاتو سره سمون لري. بيا، **ستاسې دوسيه څېړل کېږي ترڅو معلومه کړي چې تاسې د جنېوا د کنوانسيون د ۱ او ۲ مادو په اساس د کډوال حالت statut de réfugié مستحق کېږئ (۱۰ کلن کارت) او که د Ceseda قوانينو مجموعې د L. 712-1 مادې له مخې د فرعي ساتنې protection subsidiaire مستحق کېږئ (د اوسېدو څلور کلن کارت، چې ۴ کلن وي).**

**پاملرنه: د قبلېدو وروسته د ګامونو په ا ړه معلومات د Welcome Bordeaux ټولنې له خوا برابر شوي لارښود کې موندلی شئ.**

**خبرداری!** آفرا اوس د خوندي پچيدګي شخصي ځای (۳۳) له لارې د محافظت ورکولو يا ردولو پرېکړې خپروي: https://www.ofpra.gouv.fr. تر دې مخکې ، آفرا (Ofpra) کولی شي يوازې د راجستر شوي ليک له لارې د رسيد تاييد سره خپلې پرېکړې نه خبر کړي.

له دې وروسته ، پناه غوښتونکي باید په منظم ډول لړترلړه په هرو دوه اونیو کې یو ځل، او د آفرا (Ofpra) لخوا د اکونډ یې فعالیدو څخه وروسته، خوندي پیچیڼ شخصي اکونډ ته یې ته ننوځي ، او آفرا (Ofpra) باید دوی د دې کار نه ترسره کولو پایلو څخه خبر کړي.

آفرا (Ofpra) د "خوشي کیدو تاییدی" خپروي چې پناه غوښتونکي ته اجازه ورکوي په پیچیڼ پورټ کې د نوي سند اضافه کیدو په اړه خبر شي. په پورټ کې د سند چمتو کولو نیټه او وخت "د بریښنایی وخت معلومولو پروسې لخوا تضمین شوی" دی.

سربیره پردې ، د دې مقرراتو پورې اړوند یو معلوماتي پیغام بریښنالیک آدرس او / یا ګرځنده تلیفون شمیره ته لیږل کیږي چې پناه غوښتونکي د غوښتنلیک سپارلو پرمهال چمتو کړي وي یا په هغه کې ورته اشاره شوې وي. دا د ترلاسه کونکي لخوا د سند لومړۍ مشورې نیټې او وخت څخه دی ، یا د شرایطو څخه ۱۵ ورځو کې د لومړۍ مشورې نه شتون. " دا د دې خبرتیا څخه دی چې د اپیل لپاره د وخت حد پیل کیږي.

د رد کیدو په حالت کې ، د پریکړې ترلاسه کولو نیټه اړینه ده ځکه چې تاسو د دې نیټې څخه ۱ میاشت لرئ ترڅو اپیل وکړئ (۵. شمیره پاڼه) او د قانوني مرستې غوښتنه کولو لپاره یوازې ۱۵ ورځې وخت لرئ. دا د دې دلیل لپاره دی چې د پته ، تلیفون یا بریښنالیک بدلیدو په صورت کې سمدستي آفرا (Ofpra) ته خبر ورکول اړین دي.

## 4. د پاتې کیدو حق: د انکار یا د سند ایستلو قضیه (په فرانسه کې د پاتې کیدو حق پای)

### a. په اوتوماتیک ډول فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکول

په ټولو لاندې قضیو کې تاسې فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکوئ (او کېدای شي د پناه غوښتنې تصدیق درکولو نه ډډه وشي، در څخه بېرته واخیستل شي، یا د هغې نوې کولو نه انکار وشي):

- که اوفپرا پریکړه وکړي چې ستاسو غوښتنلیک ونه مني (په ټولو قضیو کې: Ceseda، ماده L. 723-11)؛
- که تاسو خپل د پناه غوښتنلیک بېرته واخلئ (Ceseda، ماده L. 723-12)؛
- که اوفپرا ستاسو د غوښتنلیک بندولو یعني تړلو پریکړه وکړي (Ceseda، ماده L. 723-13) (وګورئ رساله ۴)؛
- که مو د هېواد څخه د ویستلو نهایي پریکړه وشي.

### b. فرانسه کې د پاتې کېدو د حق د لاسه ورکولو نوي حالتونه

د ۲۰۱۸ کال د ۱۰ سپتمبر قانون په فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکولو نوې قضیې هم اضافه کوي:

- که اوفپرا پریکړه وکړي چې د بیا ځلې غوښتنه د منلو وړ نه ده (Ceseda، ماده L. 743-2، شمېره 4) یا د مرکې وروسته د بیا ځلې غوښتنه رد کړي (Ceseda، ماده L. 723-2-I)؛
- که اوفپرا مو د پناه غوښتنه ځکه رد کړي چې تاسو د داسې هېواد یاستئ چې خوندي ګڼل کېږي (POS) او یا فرانسه کې ستاسو شتون د عامه نظم، عمومي امنیت یا د دولت امنیت لپاره جدي ګواښ وي (Ceseda، ماده L. 743-2، شمېره 7 او ماده L. 723-2-I، شمېره 5 د III قانون)؛
- که اوفپرا ستاسو د غوښتنلیک د نه منلو یا ردولو پریکړه په دې دلیل وکړه چې تاسو د بېرته ستنېدو د امر سره مخ یاستئ (غیر د خاورې د وتلو امر یا ترک خاک OQTF)، یا خاورې څخه د استفادې بندیز او یا خاورې څخه د اداري استفادې بندیز سره مخ یاستئ (Ceseda، ماده L. 743-2، شمېره 8).

یادونې:

- د بېرته ستنېدو امر هغه صورت کې ورکول کېدای شي چې عمومي نظم ته جدي ګواښ وي، داسې چلند چې احتمالاً د دولت پر بنسټیزو ګټو اغیز کوي لکه د ترهګیزو فعالیتونو ا ړوند، یا د یو کس یا ډلې خلاف بښکاره او قصدي تبعیض، کرکه یا تاوتریخوالی، او یا ستاسو شخصي چلند چې د ټولني بنسټیزو ګټو ته یو ربښتونی، اوسنی او د پام وړ جدي ګواښ وي (Ceseda، د L. 521-1 څخه تر 3- مادې پورې او L. 521-5 ماده)؛
- د جرم یا ورانکارۍ په صورت کې جنایي محکمه د خاورې څخه د استفادې بندیز لګولای شي (جنایي قانون، ماده 131-30)؛
- د خاورې څخه اداري استفادې بندیز هغه صورت کې لګېدای شي چې د ټولني بنسټیزو ګټو ته ربښتونی، اوسنی او د پام وړ جدي ګواښ وي، او یا عمومي نظم، داخلي امنیت یا د فرانسې بهرنیو اړیکو ته جدي ګواښ وي (Ceseda، ماده L. 214-1 او ماده L.214-2).

### c. د خاورې څخه د وتلو امر OQTF له امله د فرانسې خاوره کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکول

د Ceseda د مادې L. 743-3 له مخې هغه کسان باید د فرانسې خاورې نه ووځي چې د پناه غوښتنلیک یې په یقیني ډول رد شوی وي او یا فرانسه کې د پاتې کېدو حق د L. 743-2 مادې په اساس (چې پخوا په a او b کې یې یادونه شوې) د لاسه ورکړي، «د ویستلو امر پرې پلې شي» (چې په حقیقت کې د خاورې څخه د وتلو امر دی OQTF).

که د پناه غوښتنلیک مو د بیا ارزونې لپاره د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمې تر ارزونې لاندې وي او تاسو د ۲۰۱۸ کال د ۱۰ سپتمبر د قانون له امله (b برخې ته دې مراجعه وشي) فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکړی، تاسو کولای شئ د اداري محکمې څخه د خپلو ویستلو د ځنډولو غوښتنه وکړئ. د دې غوښتنې دلیل دا دی چې فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکولو نه هغه وخت خبر شوي یاستئ چې د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمې CNDA پرېکړې ته منتظر وئ.

د بېلګې په ډول که د پناه غوښتنلیک مو رد شي او د خوندي هېواد یاستئ، تاسې فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکوئ. پریفیکتور به در څخه د پناه غوښتنې تصدیق واخلي او تاسې ته به د خاورې څخه د وتلو امر پاڼه درکړي. اوس تاسې کولای شئ اداري محکمې نه د خاورې څخه د وتلو امر د پلي کېدلو تر هغه وخت د ځنډولو غوښتنه وکړئ چې CNDA ستاسو دوسیه بیا وڅېړي.

**d. په کور کې نظر بندي یا نیونه**

که د ۲۰۱۸ کال د ۱۰ سپتمبر قانون له مخې فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکړئ (د b برخې ته وګورئ)، شونې ده چې ۴۵ ورځو ته مو په کور کې نظر بند کړي چې د بل ځل د پاره هم اوږدېدای شي؛ او دا هم شونې ده چې تاسې بندي کړي (Ceseda، ماده L.744-9-1).

که CNDA ته د پناه غوښتنلیک بیا څېړلو دوسیې تر سپارلو د مخه درته خاورې څخه د وتلو امر درکړ شوی وي او په کور کې نظر بند اوسئ یا بندي شوي اوسئ، تاسې د اداري محکمې څخه د ترک خاک تر هغه وخت ځنډولو غوښتنه کولای شئ تر څو چې د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه خپله پرېکړه اعلان کړې نه وي (Ceseda، ماده L. 743-4).

یادونه: د هغه کسانو خلاف ځانګړي ګامونه پورته کېږي چې داسې امرونو سره مخ وي لکه فرانسې نه ویستل، خاورې څخه د استفادې بندیز یا خاورې څخه د اداري استفادې بندیز (Ceseda، ماده L. 743-2 شمېره 8 او ماده L. 571-4). که یو کس د ویستلو حکم، یا خاورې څخه د اداري او قضایي استفادې بندیز سره مخ وي نو کولای شي د دې د ځنډولو لپاره اداري محکمې ته عریضه وکړي. دا کار باید ورسته تر هغې چې اوفپرا یې یا دوسیه رد کړي او یا یې دوسیه ونه منې، په ۴۸ ساعتونو کې دننه وکړي (Ceseda، ماده L. 571-4).

# ۷. د اوفپرا د رد پرېکړې خلاف د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه (CNDA) کې د بیا ارزونې غوښتنه

که اوفپرا مو د پناه غوښتنې ته منفي ځواب درکړي، تاسې کولی شئ چې دا پرېکړه د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه کې وننګوئ. د بیاکتنې غوښتنه باید د اوفپرا د پرېکړې اعلانولو خط تر را رسېدو یو میاشت دننه، د محکمې څخه وشي.

**نوی**: د شخصي خوندي پېجپاڼې ځای پلې کولو سره - *https://www.ofpra.gouv.fr* - ، دا د دې تر لاسه کونکي لخوا د آفرا د ردولو پرېکړې لومړۍ مشورې نیټې او وخت څخه دی ، یا نه شتون. په اولې مشورې کې د نه حضور ۱۵ ورځو وروسته د سند تر لاسه کولو ، د "رسید تصدیق" چمتو کېږي. د اپیل لپاره د وخت د دې خبرتیا څخه پیل کیږي.

**خبرداری**! آفرا (Ofpra) ممکن د یو څه مودې لپاره راجستر شوي لیکونو لیږلو ته دوام ورکړي. ترڅو د پناه غوښتنې رد کیدو خبر درکړي. بیا لیک باید د پوسټ ېلېږدونکي د لیږد خبرتیا نه ۱۵ ورځو کې دننه په پوسته خانې دفتر کې را ټول شي. که نه نو ، لیک آفرا (Ofpra) ته راستون کیږي، مګر د اپیل لپاره په پام کې نیولو نیټه به د راجسټر شوي لیک وړاندې کول وي چې بیرته نه دی تسلیم شوی.

## الف. د قضایي مرستې غوښتنه (AJ)

د وکیل درلودل اجباري نه دي، خو مشوره درکول کېږي چې وکیل ونیسئ. د وړیا وکیل نیولو د پاره د قضایي مرستې غوښتنه وکړئ. دې کار لپاره باید د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمې CNDA د قضایي مرستو دفتر ته عریضه وکړئ:
.rue Cuvier 93558 Montreuil-sous-Bois cedex 35

تاسې کولای شئ چې د قضایي مرستې فورم ډک کړئ او یا په یو سپین کاغذ عریضه ولیکئ.

دا غوښتنه د فکس له لارې ۱۱ ۴۳ ۱۸ ۴۸ ۰۱ ته لیږلی شئ.

**پاملرنه**: باید هېر نه کړئ چې د اوفپرا د پرېکړې یوه فوټوکاپي ور سره یو ځای کړئ.

د قضایي مرستې غوښتنلیک باید د قضایي مرستو دفتر ته د اوفپرا د پرېکړې د اعلانېدو ۱۵ ورځو کې وسپارل شي.

له دې ۱۵ ورځنۍ مودې وروسته تاسې د قضایي مرستې غوښتنه نشئ کولی، حتی که د بیا ارزونې غوښتنه مو هم کړې وي.

د ۱۵ ورځو دغه دوره د "تسلیمی تایید" څخه پیل کیږي چې د آفرا (Ofpra)- په خوندي پورټل کې رامینځته شوی - ww.ofpra.gouv.fr - او کوم چې د لومړۍ مشورې نیټې او وخت سره سمون لري د تر لاسه کونکي لخوا د رد کولو پرېکړې په د هغه شخصي ځای ، یا د دې سند ته لاسرسي په صورت کې په لومړیو ۱۵ ورځو کې په مشاورې کې نه شتون.

کـه پرېکړه د بریښنالیک لـه لارې لـیږل کـیږي ، وروسـتۍ نیټه د راجسټر شـوي لیـک د ویشـلو نیټې څخـه پیـل کـیږي ( *www.csuivi.courrier.laposte.fr/suivi*).

د (AJ) غوښتنه د اپیل موده ځنډوي: د ۱ میاشتنۍ موده پای ته رسیږي پداسې حال کې چې د حقوقي مرستې دفتر ستاسو په غوښتنه پرېکړه وکوي ، مګر پرېکړې د حکم خبرتیا نیټې څخه بیا پیل کیږي.

د مثال په توګه: د آفرا (Ofpra)- د انکار پرېکړه د فبروري په ۱ ، ۲۰۲۱ کې خپریږي او د حقوقي مرستې غوښتنه د فبروري پـه ۷ ، ۲۰۲۱ کې سپارل شوې ، یعنی ۶ ورځې وروسته، دا ۶ ورځې باید د اپیل سپارلو لپاره د ۱ میاشتنۍ نیټې څخه کم شي. کـه چیرې د قانوني مرستې دفتر د مارچ په ۱ ، ۲۰۲۱ د (JA) ورکولو پرېکړه وړاندې کړي، د اپیل درج کولو نیټه په هغه نیټه بیا پیل کیږي او له همدې امله مهلت بـه 25 ورځې وي ځکـه چې ۶ ورځې لا دمخه پای ته رسیدلي (د فبروري له ۱ څخه تر ۷ پورې).

د احتیاط په توګه، دا غوره ده چې ژر تر ژره اپیل درج کړئ یا لږ تر لږه د قانوني مرستې پرېکړې خبرتیا 15 ورځو کې.

د (AJ) دفتر به یو وکیل وټاکي ترڅو د پروسې په اوږدو کې تاسو سره مرسته وکړي.

تاسو کولی شئ خپل وکیل هم غوره کړئ که دا د قانوني مرستې په چوکاټ کې برابره موافق وي. تاسو به باید ژر تر ژره د هغه سره ملاقات وکړئ ترڅو هغه د (JA) غوښتنه او اپیل وکړي.

## ب. د بیا ارزونې غوښتنه

د بیا ارزونې غوښتنلیک باید په فرانسوي ژبه ولیکل شي او د رسید لرونکي راجستري خط یا فکس (۰۱.۴۸.۱۸.۴۴.۲۰) له لارې د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمې ته ولېږل شي. تاسو هغه په خپل لاس هم محکمې ته سپارلی شئ.

د بیا ارزونې په غوښتنلیک کې باید ستاسې تخلص، نوم، د زېږېدلو نېټه او ځای، تابعیت او آدرس شتون ولري.

که تاسو نه غواړئ د ویډیو اوریدلو کې غوړ شئ (د CNDA ته تللو پرته د تلیفون یا کمپیوټر له لارې د آنلاین شوي سکرین له لارې) ، تاسو باید دا په اپیل کې ذکر کړئ او په واضح ډول غوښتنه وکړئ چې په مونټریویل (Seine-Saint-Denis , 93) کې د (CNDA) په احاطه کې واورېدل شي.

هغوی ته باید دا دلیلیونه واضح کړئ د کومو له امله چې تاسې د اوفپرا پرېکړه ونه منله ده. تاسې باید هغو برخو ته ځوابونه پیدا کړئ چې اوفپرا نه دي منلي یا یې هېرې شوې دي: خپل سیاسي فعالیتونه تشریح کړئ، د هغو پېښو نېټې روښانه کړئ کومې چې اوفپرا نه دي منلي، په غوښتنلیک کې شوې غلطۍ یا د اوفپرا سره په مرکه کې شوې غلطۍ اصلاح کړئ...

تاسې کولای شئ اضافي اسناد او ثبوتونه مو د دوسیې د ارزونې پای ته رسېدو مودې پورې د رسید لرونکي راجستري خط یا فکس (۰۱.۴۸.۱۸.۴۴.۲۰) له لارې ولېږئ. دا نېټه ستاسې په جلب پاڼه کې شته دی. همدارنګه باید د خپلې دوسیې د ثبت شمېره په خط کې ولیکئ.

که وکیل لرئ نو هغه سره مشوره وکړئ چې د بیا ارزونې غوښتنه کې کوم اسناد زیات کړئ که نه. قاضیان دې اسنادو ته ډېر پام کوي: په ځانګړي ډول نېټې، د هغوي لیکونکي، د هغوي لاس ته راوړلو لارې چارې. قاضیان به د دې په اړه تاسې وپوښتي.

د بېلګې په ډول، تاسې کولای شئ هغه اسناد اضافه کړئ چې په خپل هېواد یا فرانسه کې مو جوړ کړي وي. دا اسناد ستاسې د سیاسي فعالیتونو یا ځانګړو شرایطو (لکه د مدني فعالیت شواهد، د یو دین پیروي کول، په فرانسه کې همجنس خوښې اړیکو...) له امله مو ژوند ته د ور پېښ خطر پخلی کوي.

همدارنګه تاسې کولای شئ هغه طبي تصدیقونه د دوسیې سره یو ځای کړئ چې ستاسې ټپونه یا د هغوي خاپونه ثابتوي. قاضیان دې ټولو اسنادو ته پام کوي.

یادونه: هغه اسناد خپلې دوسیې سره مه یو ځای کوئ چې ستاسې پناه غوښتنې پورې اړونه لري، لکه د ناروغۍ سند یا هغه سند چې فرانسوي ټولنې ته ستاسې ور ګډېدل ثابتوي.

**پاملرنه**: هغه اضافي اسناد خپلې دوسیې سره مه یو ځای کوئ چې د بل چا لخوا درته را لېږل شوي او تاسې د هغوي په اعتبار شکمن یاستئ.

تاسې باید هغه اسناد په فرانسوي وژباړئ چې خپلې دوسیې سره یې یو ځای کوئ. که تاسې د کومې ټولنې د راپور یوه برخه یا مو د هېواد د حالاتو په اړه کومه مقاله یا لیکنه د خپلې دوسیې سره یو ځای کول غواړئ، نو غوره به دا وي چې هغه په فرانسوي یا انګلیسي ژبه وژباړئ (و یا یا پرانیستې ژباړه).

قضایي او د پېژندنې اړوند اسناد باید **په رسمي ژباړونکو** [traducteurs assermentés](traducteurs assermentés) وژباړئ. قاضیان هغه اسناد هم مني کوم چې و یا ژباړل شوي وي، خو که دا اسناد ستاسې دوسیې لپاره مهم وي نو دا غوره ده چې په یو رسمي ژباړونکي یې وژباړئ (دا ژباړه په پیسو ده).

کله چې د بیا ارزونې دوسیه د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمې ته سپارئ، نو هغوي درته د دوسیې د ور رسېدو تصدیق او د ثبت شمېره یې را لېږي. د دې تصدیق له مخې تاسې د پناه غوښتنې تصدیق بیا نوی کولای شئ.

په اصولو کې ، د (CNDA) و ړاندې اپیل بند دی: مخکې لدې چې (CNDA) پرېکړه وکړي تاسو بېرته خپل هیواد ته نشي ستنیدلی. په هرصورت ، په ځینو مواردو کې ، دا اپیل تعلیق کونکی ندی کله چې په سیمه کې پاتې کیدو حق رد شي (۴. شمیره پاڼه).

**۱. په فرانسه کې په اوتوماتيک ډول د پاتې کېدو حق د لاسه ورکول**

پناه غوښتونکي په ټولو لاندې قضيو کې فرانسه کې د پاتې کېدو حق په اوتوماتيک ډول د لاسه ورکوي (او کېدای شي د پناه غوښتنې تصديق درکولو نه ډېروشي، در څخه بېرته واخيستل شي، يا د هغې نوي کولو نه انکار وشي):

- که اوفپرا پرېکړه وکړي چې ستاسو غوښتنليک ونه مني (په ټولو قضيو کې: Ceseda، ماده 11-723 .L)؛
- که تاسو خپل د پناه غوښتنليک بېرته واخلئ (Ceseda، ماده 12-723 .L)؛
- که اوفپرا ستاسو د غوښتنليک بندولو پرېکړه وکړي (Ceseda، ماده 13-723 .L)؛
- که هېواد څخه د ويستلو نهايي پرېکړه وشي.

**فرانسه کې د پاتې کېدو د حق د لاسه ورکولو نوي حالتونه**

د ۲۰۱۸ کال د ۱۰ سپتمبر قانون په فرانسه کې د پاتې کېدو حق د لاسه ورکولو نوې قضيې هم اضافه کوي:

- که اوفپرا پرېکړه وکړي چې د بيا ارزونې غوښتنه د منلو وړ نه ده (Ceseda، ماده 2-743 .L، شمېره 4) يا د مرکې وروسته د بيا څېړنې غوښتنه رد کړي (Ceseda، ماده I-2-723 .L)؛
- که اوفپرا مو د پناه غوښتنه ځکه رد کړي چې تاسو د داسې هېواد ياستئ چې خوندي ګڼل کېږي (POS) او يا فرانسه کې ستاسو شتون د عامه نظم، عمومي امنيت يا د دولت امنيت لپاره جدي ګواښ وي (Ceseda، ماده 2-743 .L، شمېره 7 او ماده I-2-723 .L، شمېره 5 د III قانون)؛
- که اوفپرا ستاسو د غوښتنليک د نه منلو يا ردولو پرېکړه په دې دليل وکړي چې تاسو د بېرته ستنېدو د امر سره مخ ياستئ (غير د خاورې د وتلو امر OQTF)، يا د خاورې څخه د استفادې بنديز او يا د خاورې څخه د اداري استفادې د بنديز سره مخ ياستئ (Ceseda، ماده .L 2-743، شمېره 8).

# ج. د محکمې ناسته

که عادي کړنلاره در باندې پلې کېږي، نو د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه د بيا ارزونې غوښتنليک څېړلو د پاره ۵ مياشتې وخت لري. که چټکه کړنلاره در باندې پلې کېږي (و ګورئ الف. پريفيکتور له خوا د پناه غوښتونکو «ليږندې» او د پاتې کېدو يعنې اقامت حق، رساله ۲):

- د اوفپرا پرېکړه ځنډ ګډلی شئ يعنې د هغې خلاف د بيا ارزونې غوښتنه کولی شئ، سربېره پر دې کـه در بانـدې د چټکې کړنلارې د پلې کېدو پرېکړه وشي نو هغه هم ننګولی شئ (د خپل وکيل څخه مرسته وغواړئ)؛
- يواځې يو قاضي په ۵ اونيو کې پرېکړه وکوي.

په هر صورت، دا ضرب الاجلونه ثابت او اجباري نه دي.

د محکمې ناسته علني وي خو تاسې غوښتنه کولی شئ چې د بندو دروازو تر شا دا ناسته تر سره شي (د خلکو د شتون پرته) پـه ځانګړې ډول کـه عمر مو کم وي. د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه د پاريس په (مونتروی، ۹۳) کې ده: که تاسې لرې اوسېږئ نو محکمې ته د را تلو لګښت به مو پـام وي. په محکمه کې شتون خورا مهم دی.

**خبرداری!** تاسو بايد دمخه د خپل وکيل سره د اوريدنې لپاره چمتو اوسئ. بېرته ستاسو د پناه غوښتنې کيسې ته راشئ ، هغه ټکو ته چې د آفرا پـه و ړانـدې ستونزه رامينځته کړې وي او د اوريدنې په ورځ خپل اصلي هيواد ته د بيرته ستنيدو ويره.
که تاسو د پاريس په سيمه کې اوسئ ، تاسو کولی شئ د (CNDA) اوريدنو کې برخه واخلئ ترڅو و ګورئ چې دوی څنګه پرمخ ځي.

**خبرداری!** اوريدل ممکن په راتلونکي کې د ويډيو اوريدنې کې ترسره شي (دا چې په ليرې تو ګه ويل کيږي). پناه غوښتونکی ، د هغه وکيـل او ژبـا ړونکی به په بل لرې ځای کې وي او په مونږ ديويل کې ميشته (CNDA) سره د ويډيو له لارې وصل کيږي.

د ويډيو اوريدل تر دې دمه کوم بل ځای کې تنظيم شوي ندي پرته له ګيانا (Guyana)، ريونين (Réunion) او ميوټ (Mayotte) څخـه. د غوښـتونکي رضايت ا ړين دی.

د (CNDA) پرېکړه په مونږ ديويل کې د هغې ودانۍ پـه ځمکني پو ړکې ځـوړل شـوې او د اوريـدنې ۳ اونۍ وروسـته د ګډي پروسې پـه صـورت کې وروسته د ۱ اونۍ وروسته د راجسټر شوي ليک سره يو ځای ليږل کيږي.

د (کورونا) روغتیا بحران څخه ، تاسو کولی شئ د محکمې لخوا په ټاکل شوې نیټه د "لوستلو رولونه" سرلیک لاندې د CNDA ویب پاڼې پریکړې ولولئ ، د هغه خونې په شمیرې کلیک کولو سره چې تاسو ورته رابلل شوي وای.

## د. که د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه CNDA ستاسې دلیلونه ومني او درته پناه درکړي

که محکمه د اوفپرا پریکړه لغوه کړي او تاسې ته د کډوال حالت statut de réfugié درکړي یا د فرعي ساتنې protection subsidiare مستحق مو وګڼي نو پریفیکتور بیا تاسې ته د ۶ میاشتو ریسیپیسې récépissé درکوي.

که اوفپرا مو د فرعي ساتنې مستحق وګڼي، تاسې کولی شئ دا پریکړه د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه کې ونن ټاکئ او له هغوي غوښتنه وکړئ چې د کډوال په توګه مو ومني. خو دې کار کولو سره فرعي ساتنه د لاسه نه ورکوئ.

**پاملرنه**: د قبولۍ وروسته د پړاونو په اړه معلومات د Welcome Bordeaux پاڼې له خوا برابر شوي لاربښود کې موندلی شئ.

## ه. که د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه ستاسې د بیا ارزونې غوښتنه ردکړي

په سیمه کې د پاتې کیدو حق هرڅومره ژر چې د CNDA ردولو پریکړه په خلاصه محکمه کې لوستل کیږي یا هرڅومره ژر چې پریکړې نه خبر شئ، که غوښتنه د حکم له مخې رد شوې وي (پرته له اوریدلو)، پای ته رسیږي.

- تاسې کولی شئ د ۲ میاشتو په موده کې **دولتي شورا (کونسای دیتا Conseil d'État) ته د بیا ارزونې عریضه وکړئ**. دا غوښتنه تعلیقي نه ده. دولتي شورا ستاسې غوښتنه بیا نه څېړي، خو یواځې دا ګوري چې د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمې پریکړه د اصولو سره سمه وه که نه.

یادونه: دا غوښتنه کول ستونځمن کار دی او د منل کېدو شونتیا یې هم لږه دی. او همدارنګه باید تاسې د دولتي شورا وکیل ته ډېرې پیسې ورکړئ (د قضایي مرستې تر لاسه کول خورا ستونځمن دي).

- تاسو کولی شئ د پناه غوښتلیک د بیا معاینې غوښتنه وکړئ که تاسو یو نوی عنصر اضافه کولی شئ: یا هغه عنصر چې په CNDA کې د اوریدنې وروسته پیدا شي ، یا یو عنصر چې تاسو د اوریدو دمخه خبر نه وای ، یا اړوند نوي شواهد. په لومړي غوښتلیک کې د دوباره کتلو درخاست کولای شئ.

  یو څه نوی باید اړوند وي او باید ستاسو د څورونې شخصي ویره تقویه کړي.
  د بیاکتنې غوښتنې په صورت کې ، تاسو باید مستقیم پریفیکتور ته لاړ شئ (پرته د سپا اړوله لارې) ترڅو دا غوښتنه ثبت شي.
  پدې حالت کې ، دا مشوره ورکول کیږي چې د دې ګامونو پورته کولو دمخه خپله کیسه چمتو کړئ ځکه چې د آفرا فورمه باید د بیاکتنې غوښتنې ثبتولو په ۸ ورځو کې وسپارل شي. که کیسه قانع کونکی نه وي او نوي عناصر روښانه نکړي ، آفرا (Ofpra) ممکن تاسو ته د مرکې لپاره بللو پرته د نه ردلو پریکړه وکړي.
  که آفرا (Ofpra) بیا غوښتنه ردکړي ، (CNDA) ته نوی اپیل په یوه میاشت کې ممکن دی.

تاسې ته دا مشوره درکول کېږي چې په سپادا کې د پړاونو تر پیلولو **د مخه** خپله کیسه برابره کړئ ځکه چې د اوفپرا فورم (د کېس کتابچه) باید په ۸ ورځو کې اوفپرا ته وسپارئ. که عریضه مو د قناعت وړنه وه او نوي معلومات ور کې نه وو، اوفپرا کولی شي بې له دې چې مرکې ته مو را وغواړي، ستاسې د غوښتنې د نه منلو پریکړه وکړي.

## و. که د پناه درکول رد شي

که د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه مو غوښتنه ردکړي، پرېفیکتور په اوتوماتیک ډول او بې له دې چې د محکمې رسمي اعلان ته انتظار وکړي، تاسې ته د خاورې د وتلو امر (OQTF) درکوي. دې حالت کې یواځې ۱۵ ورځې وخت لرئ چې د ترک خاک پرېکړې خلاف د بیا ارزونې غوښتنه وکړئ.

که د پناه غوښتنه مو د ۲۰۱۹ کال د مارچ ۱ (په فرانسه کې د بهرنیانو د اسېدو او پناه غوښتنې د حق د قانون د پلي کېدو نېټې) څخه وروسته ثبت شوې وي، پریفیکتور باید تاسې ته خبر درکړي چې د پناه غوښتنې سره یو ځای د استوګنې اجازې titre de séjour غوښتنه هم کولی شئ. که دا کار مو نه وي کړی او د پناه غوښتنه مو رد شي، بیا نو د استوګنې اجازې تر لاسه کولو غوښتنه مو یوازې په استثنایي حالت کې پریفیکتور له خوا منل کېږي ځکه بیا ا بېنه ده چې فرانسه کې د پاتې کېدو لپاره «نوي شرایط» توجیه کړئ.

که تاسو د پناغوښتنې سره په ورته وخت کې د بل دلیل لپاره پریفیکتور ته مراجعه کړې وي او که چیرې پریفیکتور تاسو ته دا جواز نه درکوي ، نو دا به تاسو ته د اوسیدلو اجازې د رد سره په ورته وخت کې د یوه (OQTF) خبر درکړي. آفرا (Ofpra) ځینې وختونه د پناه غوښتنې رد کیدو ته انتظار باسي ترڅو تاسو ته تر هغه وروسته (OQTF) درکړي.

په دې حالت کې د خاورې څخه د وتلو امر د پناه غوښتنې د ردېدو له کبله وي او د هغې خلاف د بیا ارزونې عریضې کولو د پاره یوازې ۱۵ ورځې وخت لرئ.

که د بیا ارزونې غوښتنه وکړئ نو باید د دواړو غوښتنو (پناه او استوګنې اجازې) د ردېدو مقابل کې دلیلونه وواياست.

که «چټکه کړنلاره» در باندې پلې کېږي نو د استوګنې اجازې او د خاورې د وتلو امر په ا ړیوازې یو قاضي پرېکړه کوي. ستاسې د بیا ارزونې غوښتنې د ردېدو په صورت کې د ویستلو امر درباندې پلې کېږي.

د دې کار لپاره داسې ټولنې ته ورشئ چې په همدې برخه کې کار کوي او یا د بې اسنادو کسانو کومې ټولنې ته ورشئ.

# VI. روغتیا

ټول پناه غوښتونکي د روغتیايي بیمې حق لري، حتی که «چټکه کړنلاره» (رساله ۱-۲) یا «دوبلین کړنلاره» (رساله ۳) کې وي. دې ته اړتیا نه شته چې فرانسه کې د ۳ میاشتو را په دېخوا اوسېدل ثابت کړئ.

په دې وجه ، په فرانسه کې د شتون په لومړیو 3 میاشتو کې ، بالغ پناه غوښتونکي (18 کاله او پورته) نشي کولی د روغتیا بیمې حق ولري. دوی یوازې د "عاجل او حیاتي پاملرنې (soins urgents et vitaux)" سیسټم سره د روغتون و پاملرنې ترلاسه کولی شي.

هغه پناه غوښتونکي چې وکولای شي ثابته کړي چې دوی له 3 میاشتو څخه ډېر وخت لپاره په فرانسه کې دي، د روغتیا بیمې مستحق دي.که کوچنیان (له 18 کالو څخه کم) د پناه غوښتنه کوي او د پناه غوښتونکي پورې تړلي ماشومان پرته له ځنډ څخه د دې حق لري.

روغتیا بیمه او (C2S) تاسو ته اجازه درکوي چې نه طبي او درملو پسې و ګرځئ او نه د طبي پاملرنې او درملو لګښتونه تادیه کړئ.

د دې تر لاسه کولو لپاره، تاسې باید د روغتیايي بیمې هغه دفتر (CPAM) ته ورشئ چې د اوسېدو ځای سره مو نږدې وي. سپادا (رساله ۱) یا اوفي (رساله ۲-۲) درته د نومو ړي دفتر سره د لیدنې وعده را اخلي. دا اړینه ده چې احضار پاڼه کې لیکلي شوې نېټې باندې هغې دفتر ته ځان ورسوئ.

که سپادا درته د روغتیايي بیمې له دفتر سره د لیدنې وعده را وانه خلي نو د هغوي وغواړئ چې دا کار وکړي!

یادونه: د لیدنې دې وعدې ته ځان رسول اړین دي. که داسې ونه کړئ نو د بلې وعدې اخیستل ډېر ګران دي.

د لیدنې پر مهال باید لاندې اسناد درسره ولرئ:

- د پناه غوښتنې تصدیق attestation de demande d'asile چې پریفیکتور درته د دوسیې درکولو په وخت کې درکړي وو؛
- د پوستي آدرس تصدیق attestation de domiciliation چې د اوسېدو مرکز او یا سپادا یې درکوي.
- که تاسو 18 کلن یا ډېر عمر لرئ ، کوم سند چې له 3 میاشتو څخه ډېر وخت لپاره په فرانسه کې ستاسو شتون تصدیق کوي.

یادونه: د تېرو دولسو میاشتو عاید یا د ګڼ شوو پیسو اندازه در څخه غوښتل کېږي، دې کې هغه څه هم راځي چې تاسې خپل هېواد کې لاس ته راوړي دي. هغه باید په یورو واړوئ.

کله چې تاسو روغتیا بیمه او (C2S) ترلاسه کړئ ، تاسو کولی شئ و پاملرنې یا روغتون ته ورشئ. دا د "امیلي" په نوم پېژندل شوي حقونو سند و اړندې کولو لپاره کافي دی (روغتیا بیمه او C2S).

که په کارونو کې مرستې ته اړتیا لرئ نو لاندې ادارو سره اړیکه ونیسئ:

- د روغتون ټولنیز خدمات؛
- هغه ټولنه چې د دوسیې په برابرولو کې در سره مرسته کوي؛
- هغه مرکز چې هلته اوسېږئ.

کله چې روغتیايي بیمې ته منتظر اوسئ نو روغتیايي خدماتو ته د لاسرسي مرکزونو (PASS) ته ورتلی شئ چې په ځینو روغتونو کې شتون لري. یو ټولنیز مرستیال ستاسې ټولنیز وضعیت څېړي او بیا مو ډاکټر ته لېږي.

همدارنګه تاسې دې ځایونو ته هم ورتلی شئ:

- د هرکلي، پاملرنې او لارښوونې مرکز (Caso) چې د نړۍ ډاکترانو (میدسن دو موند Médecins du Monde) له خوا اداره کېږي او په 10-8 rue des blés 93210 La plaine Saint Denis کې دی. د کار مهالوېش یې په دې ډول دی: د دوشنبې، سه شنبې او پنجشنبې په ورځو د ۹ څخه تر ۱۳ او ۱۴ څخه تر ۱۷ بجو؛ د جمعې په ورځ د ۹ څخه تر ۱۳ بجو؛
- د هرکلي، لارښوونې او ملاتړ مرکز (CAOA) چې په 15 boulevard de Picpus 75012 Paris کې دی.

**مهال ویشونه پدې ویب پاڼې کې ورکړل شوي:** [*www.medecinsdumonde.org/fr/contact/ile-de-france*](http://www.medecinsdumonde.org/fr/contact/ile-de-france)

# VII. د کار اجازه

د پناه غوښتنې په لومړیو میاشتو کې د کار اجازه نه لرئ.
که د پناه غوښتنې مو ۶ میاشتې تیرې شوي وي (د ۲۰۱۹ کال د مارچ تر ۱ نیټې دا وخت «۹ میاشتې» دی) او اوفپرا ستاسې د دوسیې په ا ړه پریکړه نه ده کړې نو د کار کولو د اجازې غوښتنه کولی شئ.

تر هغې چې د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمه خپله پریکړه اعلان نه کړي، تاسې پناه غوښتونکي شمېرل کېږئ. خو د فرانسې قانون یوازې هغو کسانو ته د کار کولو اجازه ورکوي چې د اوفپرا په پروسه کې وي.

حالت ۱ – د پناه غوښتنه مو د ۶ میاشتو تر پوره کېدو د مخه اوفپرا رد کړ (د ۲۰۱۹ کال د مارچ میاشت ۱ نیټې پورې به دا وخت «۹ میاشتې» وي). تاسې د پناه غوښتنې حقونو ملي محکمې کې د بیا ارزونې غوښتنه کړې او محکمې لا پریکړه نه ده کړې: تاسې د کار اجازه نشئ غوښتی.

حالت ۲ – اوفپرا ته د دوسیې تر سپارلو مو د ۶ میاشتو څخه ډېر وخت تیر شوی (د ۲۰۱۹ کال د مارچ میاشت ۱ نیټې پورې به دا وخت د « ۹ میاشتو» څخه ډېر وي) او لا تر اوسه مو دوسیه تر ارزونې لاندې ده. که د کار اجازې تر لاسه کولو عریضه وکړئ او د پناه غوښتنه رد شي او بیا تاسې دا پریکړه محکمه کې وننګوئ، حکومت به د کار د اجازې عریضه وڅیړي.

**یادونه:** د فرانسې قانون له مخې هغه خلک چې د ډوبلین پروسیجر کې دي ته تر ۶ میاشتو پورې، وروسته لدې چې د دوی غوښتنلیک آفرا (Ofpra) ته ورسیږي، یعنې د دوی غوښتنلیک سپارلو ۱۵ میاشتې وروسته، د کار کولو اجازه نه ورکوي. د (CJUE) د جنوري ۱۴ ، ۲۰۲۱ پریکړه ثابتوي چې فرانسه د دې په ادعا کولو سره غلطه ثابته کړه چې د ډبلین پروسیجر کې خلک باید د پناه غوښتنې سپارلو ۹ میاشتې وروسته کار وکړای شي. له همدې امله تاسو باید د دې ۹ میاشتې مودې وروسته د کاري جواز لپاره غوښتنه کولو کې شک مکوئ. دا ممکنه ده چې د یوې ټولنې یا وکیل څخه مرسته تر لاسه کړئ.

## الف. د کار اجازې تر لاسه کولو د پاره اړین ټکونه

**لومړی، تاسو باید یو کار ګمارونکی وموموئ او هغه قانع کړئ چې آنلاین فایل را ټول او وسپاري په شمول:**

- د 3 میاشتو څخه ډېر د کار ګمارنې تړون کې ګډې؛
- د هغه شرکت او د هغه پخواني دندې لړونو په ا ړه معلومات.

د اسنادو لیست چې د کار جواز غوښتنلیک ملاتړ لپاره چمتو کیږي او فایل سره وصل کیږي ، د اپریل ۱ ، ۲۰۲۱ فرمان ۷ مادې کې ټاکل شوی:
www.legifrance.gouv.fr/jorf / id / JORFTEXT000043317454

**فایل باید د هغې ادارې پریفیکتور ته ولیږدي شي چیرې چې تاسو اوسئ. پریفیکتور کولی شي د کار جواز ورکړي یا رد کړي (د مثال په توګه، که په فرانسه کې ډیری بیکاره خلک کولی شي دا دنده ولري ...).**

د اپریل ۲۰۲۱ (۴۱) راهیسې ، د کاري جواز غوښتنلیک سپارلو لپاره ، تاسو باید د ځانګړي تلیفوني خدمت ویب پاڼې سره وصل شئ:
https://administration-etrangersen-france.interieur.gouv.fr/immiprousager/#/authentification

د انکار په صورت کې ، تاسو کولی شئ د اداري محکمې پرو اړندې اعتراض وکړئ. د دې کولو لپاره ، د بهرنیانو حقونو لپاره یوې ټولنې او یا وکیل سره مشوره وکړئ.

**یادونه:** ولایت د کاري جواز غوښتنې ته ځواب ویلو لپاره ۲ میاشتې وخت لري. په دې ۲ میاشتو کې د ځواب نه ورکولو په صورت کې ، د کاري جواز به په شرطي توګه منل وي (واک به ورکړل شوی ګڼل کیږي).

کله چې د کار اجازه تر لاسه کړئ نو کولی شئ د خپل ګمارونکي لپاره کار پیل کړئ.

**پاملرنه:** باید د کار شرکت بدل نه کړئ ځکه د کار کومه اجازه چې پریفیکتور در کړې هغه یوازې همدې تړون پورې ا ړوند ده.

د دندې له لاسه ورکولو په صورت کې ، تاسو به یوازې د دې و تړیا ولرئ چې د پیل (Pole emploi) کار سره راجسټر شئ ، او احتمالا د بیکارۍ ګټې به ترلاسه کړئ ، که چیرې د کار ګډارونکي ته د منلو وړ دلیل یا د قضیې له مخې د کارموندنې قرارداد د دې مودې دمخه په زوره پای ته رسیدلی وي. پدې حالت کې ، د هر کار غوښتونکي په څیر ، پناه غوښتونکي کولی شي په اصولو کې د څو وړله مسلکي روزنې څخه ګټه پورته کړي (د پولی Pole emploi ته مراجعه وکړئ). په عمل کې ، د مسلکي روزنې لپاره تمویل ته لاسرسی ستونزمن دی.

## ب. د بهرني یواځې ماشومانو ځانګړې قضیه (MIE چې MNA هم ورته ویل کیږي):

بهرني یواځې ماشومان چې د ماشومانو لپاره د ټولنیزې مرستې پروګرام aide sociale à l’enfance ترې ملاتړ کوي، په هغه صورت کې د کار اجازه تر لاسه کولی شي چې زده کړې یا مسلکي کېدو ته ورن تر لاسه کړي شي.

که دوی د پناه غوښتنه وکړي ، دوی ته باید اجازه ورکړل شي چې د دې غوښتنلیک پروسس کولو مودې لپاره خپل ټرون ته دوام ورکړي.

# VIII. بهرني يواځې ماشومان

## الف. د ASE (ماشومانو سره د ټولنيزې مرستې پروګرام) څخه د مرستې تر لاسه کول

بهرني يواځې ماشومان (يا «هغه ماشومان چې څوک ورسره مل نه وي» - MNA) بايد د ماشومانو د ساتنې له مرستو برخمن شي. که له ۱۸ کالو کم اوسئ او په فرانسه کې درسره قانوني استازی نه لرئ نو بهرنی يواځې ماشوم بلل کېږئ. که د پناه غوښتنه مو هم نه وي کړې، بايد فرانسه تر هغې در څخه ساتنه وکړي چې لوی شئ (۱۸ کلن). تاسې کولی شئ د پناه غوښتنه وکړئ. خو دا مشوره درکول کېږي چې تر هر څه د مخه د ماشومانو سره د ټولنيزې مرستې له پروګرام د مرستې غوښتنه وکړئ (د اوسېدو ځای، روغتيا، زده کړې...).

د دې لپاره چې ستاسې مسوليت په غاړه واخلي، ماشومانو سره د ټولنيزې مرستې پروګرام له تاسې سره **مرکه کوي ترڅو دا وارزوي چې عمر مو له ۱۸ کالو کم دی که نه، او آيا ريښتنيا هم په فرانسه کې يواځې ياستئ:**

- بايد خپل هېواد څخه د را وتلو ټوله کيسه وکړئ؛
- که د پېژندني کوم اسناد لرئ هغه به وښودل شي.
- تاسو ته ممکن ستاسو د عمر ټاکلو لپاره طبي معاينه هم درکړل شي.

په هېري ښارونو کې، تاسو پريفيکتور ته لېږل کيدای شئ کوم چې به ستاسو د ګوتو نښې، ستاسو عکس واخلي او خپل شخصي معلومات به را ټول کړي ترڅو د بهرنيانو په اړه موجوده فايلونو کې سره پرتله کړي. تاسو کولی شئ پريفيکتور کې دې غونډې ته له تګ څخه انکار وکړئ، مګر دا ممکن ستاسو د اقليت په اړه د (ASE) او اداري شکونه تقويه کړي.

**پاملرنه**: د ماشومانو لپاره ټولنيزې مرستې پروګرام ASE **يواځې په دې دليل** ستاسې د مرستې غوښتنه نشي ردولی که فرانسه کې ستاسې د کورنۍ کوم غړی اوسېږي (چې مو مسوليت په غاړه واخيستل نه غواړي يا يې په غاړه نشي اخيستی) يا کوم چا د اوسېدو لنډمهالی ځای درکړی دی.

### ۱. د سن د ارزونې مرکې لپاره بايد چېرته ورشئ؟

په ځينو ولايتونو کې بايد تاسې ولايتي شورا ودانۍ ته ورشئ چېرې چې د ماشومانو لپاره د ټولنيزې مرستې د پروګرام دفتر اوسي. په نورو ولايتونو کې بايد تاسې د هرکلي او ارزونې پلټفورم ته ورشئ:

- په پاريس کې: د دې مرکز نوم DEMIE (د بهرني يواځې ماشومانو د ارزونې مرکز - سور صليب) دی:
  rue du Moulin Joly 75011 Paris 5 (تمځای Couronnes، ميترو ۲). دا شوني ده چې د سن د ارزونې مرکه څو ورځې وروسته در سره وکړي. کاري وختونه: دوشنبه، سه شنبه، پنجشنبه او جمعه : د سهار له ۸:۳۰ څخه تر ماښام ۶ بورې

  د چهارشنبې : د سهار له ۱۱ بجو څخه تر ۵ بجو پورې

- په سن سن دُني (۹۳) Seine Saint-Denis کې د دې مرکز نوم PEMIE دی:
  rue Benoît Frachon 93000 Bobigny 1-15؛
  له دوشنبه تر جمعې د سهار له ۹ بجو څخه تر ۴ بجو پورې خلاص وي (د پنجشنبې ماسپښين پرته).

- په وال-دُ-مارن (۹۴) Val-de-Marne کې د دې مرکز نوم PEOMIE دی:
  rue Albert Einstein 94000 Créteil 6.
  له دوشنبه تر جمعې پورې ، د سهار له ۹:۳۰ څخه تر ماښام ۵:۳۰ پورې خلاص وي.

د پرېکړې تر کولو، بايد ماشومانو سره د ټولنيزې مرستې پروګرام ASE تاسې ته د سر پټولو ځای درکړي. د پرېکړې تر لاسه کولو د پاره بايد هغه ځای ته دوه يا درې ورځې وروسته ورشئ چېرې چې در سره مرکه شوې وه.

تاسو کولی شئ د ارزونې مرکې راپور هم وغواړئ.

**۲. که د ماشومانو سره د ټولنیزې مرستې پروګرام ASE در سره له مرستې انکار وکړي**

- تاسې په مستقیم ډول د ماشومانو له محکمې غوښتنه کولی شئ چې ASE ته ستاسې د مسولیت په غاړه اخیستو امر وکړي. دا پروسه څو میاشتې نیولی شي. د پناه غوښتنې کولو د پاره دې ته اړتیا نشته چې د محکمې پرېکړې ته انتظار وکړئ.
- که د پاریس شاوخوا اوسېږئ نو کولی شئ خپلو کارونو کې د مرستې غوښتلو د پاره ADJIE (بهرني یواځې ماشومانو څخه د دفاع او ملاتړ دفتر) ته ورشئ: ter avenue de Flandres 75019 Paris 49 (تمځای Stalingrad، مېټرو ۲، ۵ او ۷). په نورو سیمو کې هم حتماً داسې ټولنې شته چې در سره مرسته وکړي.
- د پاریس بار د کوچنیانو څانګه (barreau de Paris)، د پاریس قضایی محکمې په څمکه کې (پورټ دي کلیچي Porte de Clichy ، مېټرو لاین ۱۳ او ۱۴): له دوشنبه تر جمعې د ماسپښین له ۲ څخه تر ماښام ۵ پورې او سه شنبه او جمعه له ۹:۳۰ څخه تر ۱۲ بجو پورې ماښام، په نورو سیمو کې ، نورې اتحادیې کولی شي تاسو سره مرسته وکړي.

# ب. د یواځې ماشوم په توګه د پناه غوښتنه کول

**د ASE څخه دا غوښتنه چې ستاسې مسولیت په غاړه واخلي، د پناه د غوښتنې کولو مخه مو نشي نیولای.** د ماشومانو د پناه غوښتنې طرزالعمل د لویانو د پناه غوښتنې په شان دی. یو ځانګړی چارسمبالی یا سرپرست (AAH) به د پناه غوښتنې دوسیې په برابرولو او سپارلو کې کې ستاسې لاس نیوی وکړي. هغه به ستاسې استازی وي او په کارونو کې به در سره مرسته کوي. دا حتمي نه ده چې هغه دې د پناه غوښتنې په ټولو لارو چارو خبر اوسي: نو باید له هغو ټولنو مرسته وغوښتل شي چې په د پناه غوښتنې په بهیر پوره پوهېږي.

دا د پریفیکتور دنده ده چې له ځارنوال دا غوښتنه وکړي چې تاسې لپاره یو ځانګړی چارسمبالی (AAH) و ټاکي (حتی که د ماشومانو سره د ټولنیزې مرستې پروګرام هم ستاسې مسولیت په غاړه اخیستی وي، بیا هم باید دا کار وشي).

د لاندې لاملونو له امله په تاسې چټکه کړنلاره پلې کېدی شي (رساله ۱-۲):

- تاسې د یو خوندي هېواد یاستئ؛
- تاسې د بیا ارزونې غوښتنه کړې ده او دا غوښتنه مو په شرایطو برابره نګڼل شوې ده؛
- ستاسې شتون عامه نظم، عمومي امنیت یا خوندیتوب ته ګواښ دی.

په تاسې به د «دوبلین کړنلاره» پلې نه شي او هغه هېواد ته به بېرته ونه لېږدول شئ چېرې مو چې د ګوتو نښې اخیستل شوې وې (رساله ۳). ستاسې کم عمر او زیانمنونکي حالت ته په کتو سره باید فرانسه مو د پناه غوښتنه وڅېړي. د «دوبلین» قانون لـه مخې تاسې دا غوښتنه کولی شئ چې د خپلې کورنۍ داسې غړي سره یو ځای شئ چې د اروپایي اتحادیې په بل هېواد کې یې د پناه غوښتنه کړې وي.

د کم عمره کس په توګه تاسې ته د پناه غوښتونکو د هرکلي مرکز (Cada) کې ځای او د پناه غوښتونکو مالي مرسته (ADA) نه درکول کېږي. صرف د ماشومانو سره د ټولنیزې مرستې پروګرام (ASE) یواځې ماشومانو ته د اوسېدو ځای ور کولی شي.

په پاریس ، لیون یا د اویس (Oise) ښارونو کې د بې سرپرسته کوچنیانو د ګټورو ادرسونو موندلو لپاره ، تاسو کولی شئ د دوی سایټ څخه د واټزات (Watizat) لاربښود ډاونلوډ کړئ: *https://watizat.org*

(UAM) معلومات په ټاکلي رنګ مشخص شوي.

# IX. ستاسو کورنۍ

ستاسو په آفپرا (Ofpra) فورمه کې ، د خپل میړه یا د ژوند ملګري نوم ، د زیږون نیټه او ځای ، ستاسو د واده نیټه په ګوته کول مه هیروئ ، حتی که دا مذهبي واده هم وي. ستاسو د ماشومانو نومونه ، نیټې او د زیږون ځایونه هم پکې شامل کړئ.

که تاسو د نیټې په اړه ډاډه نه یاست ، په قوسونو کې "نږدې نیټه" شامل کړئ.

دا ګټور دی چې فرانسې ته ستاسو له راتګ دمخه ستاسو له خپلې کورنۍ سره ستاسو د اړیکو ټول شواهد وساتئ: د تلیفون ارتباطات (د سمارټ فون سکرین شاټونه) ، د پیسو استول (د پیسو امر یا له خلکو څخه سندونه چې هیواد ته پیسې راوړي) او په هیواد کې چمتو شوي اسناد ( د ښوونځي سندونه ، روغتیا ریکارډونه ، او نور) به ګټور وي.

دا به ګټور هم وي چې د خپلې کورنۍ سره د ځان عکسونه ولرئ ، مخکې لدې چې تاسو هیواد پریږدو ، یا کله چې سفر کوئ.

که تاسو د کډوال حیثیت یا ضمني محافظت ترلاسه کړئ ، ستاسو د کورنۍ غړي کولی شي د ځینې حقونو ادعا وکړي: د کورنۍ یو ځای کیدل یا بیا یو ځای کیدل ، ټولنیزې ګټې او داسې نور. د کورنۍ غړي دا دي:

- ستاسو میړه ، ستاسو د مدني ملګری (د PACS معادل) ، ستاسو د ژوند شریک؛

- ستاسو ماشومان او ستاسو میرمن یا ملګری ، چې عمر یې له 19 کالو څخه کم وي او واده نه وي؛

- ستاسو پلار او مور ، په بیله بیا ستاسو ورونه او خویندې که تاسو کوچنی یاست او واده مو نه وي کړی.

**یادونه**: تاسو کولی شئ د ښه راغلاست بورډ اجتماعي لخوا رامینځته شوي لارښود کې د وضعیت ترلاسه کولو وروسته د ګامونو په اړه معلومات ومومئ: *http://leguidedurefugie.com/pdf/guide-du-refugie-version-fr.pdf*

په بیله بیا د آفرا (Ofpra) ویب پاڼه کې (د "کورنۍ بیا یو ځای کیدو" بخش کې):

*www.ofpra.gouv.fr/fr/protection-etat-civil/reunification-familiale*

## الف) تاسو د پناه غوښتنه کولو دمخه واده کړي او یو ځای ژوند کړئ

واده (یا PACS یا شرعي نکاح) باید ستاسو د پناه غوښتنه مخکې لمانځل شوې وي (یا رسمي شوې وي). د ګډونپه حالت کې ، تاسو باید د خپل ژوند ملګري سره باثباته او دوامداره اړیکه ولرئ ("د ژوند مؤثره ټولنه").

### ۱. ستاسو کورنۍ په فرانسه کې ده

له یوې خوا ، د کورنۍ یووالي اصول سره او له بلې خوا ، د ( Ceseda / ex-L.741-1 L. 531-23 ( مادې په مطابق:

- که تاسو د کډوالۍ حیثیت لرئ ، ستاسو د کورنۍ غړي د ځانګړو شرایطو لاندې د ۱۰ کلن استوګنې جواز (د اوسیدو جواز) حق لري؛

- که تاسو فرعي محافظت ولرئ ، دوی به د ځانګړو شرایطو لاندې د ۴ کلونو لپاره د څو کلن استوګنې جواز حق ولري ، بیا د دایمي استوګنې حق به ولري.

که ستاسو میرمن ، ملګری یا ماشومان پرته له ویزې فرانسې ته داخل شوي وي ، که دوی د ۱۸ کالو څخه پورته عمر ولري (Ceseda ، art. L. 423-23 ex-L. 313-11 7 / درجه) ، د تنظیمي مالیې تادیې په ورکلو سره ، بیا د لومړي استوګنې جواز وروسته ، د کډوال د کورنۍ غړو لپاره د استوګنې کارت ، یا د اړخیز ملاتړ په صورت کې د (خصوصي او کورنیز) کارت غوښتنه وکړي.

### 2. ستاسو کورنۍ په بل هیواد کې هستوګنه ده

تاسو کولی شئ د کورنۍ یو ځای کیدو لپاره غوښتنه وکړئ: د عاید شرایط ، هستوګنه ، په فرانسوي ژبه کې روانی یا په فرانسه کې د اوسیدو اوږدوالي ته اړتیا نشته.

هرڅومره ژر چې تاسو محافظت ترلاسه کړئ ، ستاسو د کورنۍ غړي کولی شي د دوی د اوسیدو هیواد کې د فرانسوي قونسلګرۍ چارواکو څخه د اوږدې مودې ویزې لپاره غوښتنه وکړي.

د پروسیجر او اسنادو په اړه معلومات په *france-visas.gouv.fr* ویب پاڼه کې بښودل شوي دي.

په ځانګړې توګه ، د آفرا (Ofpra) یا (CNDA) لخوا ورکړل شوي اسناد، پاسپورټونه د مدني حالت اسناد (زیږون ، واده) باید د محافظت شوي کس سره اړیکې ثابتولو لپاره تسلیم کړي.

په هغه حالت کې چې د کورنۍ غړي ونشي کولای پاسپورټ ترلاسه کړي ، د قونسلګرۍ اداره ممکن په "لایسز-پاسر laissez-passer " باندې ویزه صادر کړي.

تاسو څخه ستاسو د کورنۍ اړیکې نورو ثبوتونو غوښتنه کیدای شي. هغه خلک چې تاسو پیژنئ کولی شي د دوی د هویت سند کاپي سره د دقیق لیکلي شهادت په ورکولو سره دې اړیکو ثابتولو ته شهادت ورکړي. تاسو کولی شئ د تلیفوني اړیکو لیست، سکایپ ، وایبر ، او نور د تلیفون مخکیني اړیکې ، لیکونه ، بریښنالیکونه ، د تادیې رسیدونه ، او نور هم چمتو کړئ.

**خبرداری!** ستاسو د کورنۍ غړي باید د فرانسې ویزې لپاره د هغه هیواد د فرانسوي قونسلګرۍ چارواکو څخه غوښتنه وکړي چیرې چې دوی په قانوني ډول اوسیږي یا د دوی تابعیت لرونکی هیواد وي.

**یادونه:** که تاسو د خپل هیواد پرته بل هیواد کې د خپلې کورنۍ لیدو لپاره سفر کوئ ، د خپل سفر سند کاپي د ټیپې سره ، ستاسو د الوتکې ټکټ ستاسو پیرود لپاره رسیدونو ، او نورو سره وساتئ. د خپلې کورنۍ سره عکسونه واخلئ ( په عکسونو کې د نیټې ذکر وکړئ).

که تاسو د واده دمخه یو ځای ژوند کاوه ، که تاسو ماشومان درلودل ، تاسو کولی شئ د خپلې کورنۍ یو ځای کیدو لپاره هم غوښتنه وکړئ. برعکس ، فرانسې ته له رسیدو وروسته واده کول اړین ندي ، ځکه چې بیا به تاسو اړتیا لرئ د "کورنۍ یو ځای کیدو" لپاره غوښتنه وکړئ ، د کورنۍ بیا یو ځای کیدو شرایطو په پرتله خورا سخت شرایطو سره.

## ب. تاسو د پناه غوښتنه کولو وروسته واده وکړ

که تاسو پناه غوښتونکی یا ګډوال یاست او تاسو په فرانسه کې اوسیږئ ، تاسو حق لرئ واده وکړئ او مشترک ژوند ته داخل شئ.

تاسو باید د فرانسوي مقرراتو سره موافقت وکړئ، که تاسو په بهر کې واده کوئ ، د "واده سند" لپاره لاندې ویب پاڼه وکاروئ: *www.ofpra.gouv.fr/fr/protection-etat-civil/mariage*

### ۱. ستاسو کورنۍ په فرانسه کې ده

که تاسو د ورته هیواد څخه چا سره په عادي حالت کې واده وکړئ، د کورنۍ ژوند ته درناوۍ اصول (د بشري حقونو په اړه د اروپایی کنوانسیون ماده. ۸) تاسو ته حق درکوي چې د تاسو میرمنه/میړه هم د اوسیدو جواز (اقامت) ولري: تاسو حق لرئ. په فرانسه کې یو ځای ژوند وکړئ ځکه چې تاسو نشې کولای خپل اصلي هیواد ته راستون شئ.

که ستاسو میرمنه/میړه په غیر منظم حالت کې په فرانسه کې وي ، نو دا به لومړی د "شخصي او کورنۍ ژوند" کارت، بیا ، د قضیې پورې اړه لري ، د اوسیدونکي (ګډوال) کارت یا څو کلن پاتې کیدلو اقامت کارت (د فرعي محافظت ګټه اخیستونکی) ) پدې کې شامل کیدای شي.

### ۲. ستاسو کورنۍ په بل هیواد کې ده

تاسو باید په بهر کې واده کولو لپاره د "واده کولو قانوني وثیقا سند" لپاره غوښتنه وکړئ. بیا وروسته به واده ستاسو په سند کې چې د آفرا (Ofpra) لخوا صادر شوي ذکر شي.

تاسو کولی شئ د نورو بهرنیانو په څیر د کورنۍ یو ځای کیدو لپاره غوښتنه وکړئ.

اړتیاوې سختې دي: مستحکم عاید (لږ تر لږه معاش، او په کورنۍ کې د خلکو شمیر پورې اړه لري ، د لږ تر لږه معاش څخه ډېر)، د کافي ځای درلودونکی د اوسیدو ځای:

http://www.ofii.fr/faire-venir-sa-famille

د کورنۍ بیا یو ځای کیدو لپاره غوښتنلیک د ((Ofii کې ثبت کیږي ، بیا پریکړه د ولایت لخوا نیول کیږي.

**<u>ج. که تاسې کم عمره او مجرد اوسئ</u>**

**ستاسې مور او پلار فرانسه کې دي:**

- که د ګ وال په تو ګ ېږندل شوي یاست نو مور او پلار مو د ځینو شرایطو په پام کې نیولو سره د اوسېدو ۱۰ کلن کارت تر لاسه کوي؛
- که فرعي ساتنه درک ړشوي وي نو مور او پلار مو د ځینو شرایطو په پام کې نیولو سره د اوسېدو څوکلن کارت (۴ کلن) تر لاسه کوي.

**ستاسې مور او پلار په بل هېواد کې دي:**

- تاسې د کورنۍ د یو ځای کولو غوښتنه د خپل مور او پلار، او همدارنګ د کم عمره مجرد ورونو او خوېندو د پاره کولی شئ.

**<u>د. د بیا څېړنې غوښتنه</u>**

که کورنۍ ته مو د ویزې د ورکولو نه انکار شوی وي تاسې د بیا څېړنې غوښتنه کولی شئ. دا غوښتنه باید لوم ړ د ویزې د ردېدلو په ضد د بیا څېړنې کمیسون او بیا د نانت اداري محکمې ته وسپارئ. په دې ا ړه د معلوماتو تر لاسه کولو د پاره هغه ټولنو سره ا ړیکه ونیسئ چې دې برخه کې کار کوي، خو پام کوئ چې د بیا څېړنې د غوښتنې کولو موده ډېره لنډه ده.

**<u>ه. زده کړې</u>**

که د پناه غوښتونکي اوسئ او که قبول شوي یاست، ماشومان مو دا حق لري چې ستاسې د اوسېدو ځای ته نږدې زده کړې مرکز کې شامل شي.

**<u>و. طلاق</u>**

هغه خلک چې فرانسه کې قبول شوي دي د هغوي طلاق د فرانسوي قانون له مخې تر سره کېږي. که د خاوند او مېرمن څخه یو یې قبولي ونه لري نو دا شونې ده چې د هغه طلاق د هغه د هېواد د قانون له مخې وشي. ځکه نو دا غوراره ده چې بهرنیانو څخه د دفاع ټولنو یا هغو وکیلانو سره ا ړیکه ونیسئ چې دې برخه کې کار کوي.

| فرانسوي مخفف | فرانسوي نوم | پښتو نوم | پښتو مخفف |
|---|---|---|---|
| ADA | Allocation de demandeur d'asile | د پناه غوښتونکو مالی مرسته | ادا |
| ADJIE | Accompagnement et défense des jeunes isolés étrangers | بهرني يواځې ماشومانو څخه د دفاع او ملاتړ دفتر | اَ دِ ژي |
| AMA | Aide médicale d'État | دولتي طبي مرستې | اَ اِم اَ |
| ARS | Agence régional de santé | سيمه ييز روغتيايي آژانس | اَ اِر اِس |
| ASE | Aide sociale à/de l'enfance | ماشومانو لپاره د ټولنيزې مرستې پروګرام | اَ اِس اُ |
| AT-SA | Accueil temporaire-service de l'asile | لنډمهاله هرکلی – د پناه غوښتنې سروېس | اَ ت اِس اَ |
| Cada | Centre d'accueil de demandeurs d'asile | د پناه غوښتونکو د هرکلي مرکز | کادا |
| CAES | Centres d'accueil et d'examen des situations | د هرکلي او حالت څېړنې مرکزونه | ث اَ اُ اِس |
| CAO | Centre d'accueil et d'orientation | د هرکلي او لارښوونې مرکز | ث اَ او |
| CAOA | Centre d'accueil, d'orientation et d'accompagnement | د هرکلي، لارښوونې او ملاتړ مرکز | ث اَ او اَ |
| Cara | Centre d'aide au retour accompagné | د بيرته ستنيدو لپاره د ملاتړ مرکز | کارا |
| Caso | Centre d'accueil, de soins et d'orientation | د هرکلي، پاملرنې او لارښوونې مرکز | کازو |
| CCAS | Centre communal d'action sociale | د ټولنيزو خدماتو کوميوني مرکز | ث ث اَ اِس |
| Ceséda | Code de l'entrée et du séjour des étrangers et du droit d'asile | د بهرنيانو د را تللو او استو ګنې او د پناه غوښتنې حق ا ړندو قوانينو مجموعه | سوسِدا |
| Chum | Centre d'hébergement d'urgence pour migrants | د کډوالو بيړنۍ استو ګنځی | شيوم |
| CMA | Conditions matérielles d'accueil | د هرکلي مادي شرطونه | ث اِم اَ |
| CMU-C | Couverture maladie universelle - complémentaire | عمومي روغتيايي پوښښ - متمم | ث اِم ايو ث |
| CNDA | Cour nationale du droit d'asile | د پناه غوښتنې حقونو ملی محکمه | ث اِن دِ اَ |
| CPAM | Caisse primaire d'assurance maladie | د روغتيايي بيمې دفتر | ث پ اَ اِم |
| DEMIE | Dispositif d'évaluation des mineurs isolés étrangers | د بهرني يواځې ماشومانو د ارزونې مرکز | دومي |
| GUDA | Guichet unique pour la demande d'asile | د پناه غوښتنې ځانګړې غرفه | ګودا |
| Huda | Hébergement d'urgence pour demandeurs d'asile | د پناه غوښتونکو بېړنۍ استو ګنځی | هودا |
| MIE | Mineurs isolés étrangers | بهرني يواځې ماشومان | اِم اِی اُ |
| MNA | Mineurs non accompagnés | هغه ماشومان چې څوک ورسره مل نه وي | اِم اِن اَ |
| OFII | Office français de l'immigration et l'intégration | د فرانسې کډوالۍ او ټولنې ته د ګډولو اداره | اوفی |
| OFPRA | Office français de protection des réfugiés et des apatrides | د فرانسې د کډوالو او بې وطنو د ساتنې اداره | اوفپرا |
| OQTF | Obligation de quitter le territoire | د خاورې څخه د وتلو امر يا ترک خاک | او کو ت اِف |
| PASS | Permanences d'accès aux soins de santé | روغتيايي خدماتو ته د لاسرسي مرکزونه | پاس |
| Prahda | Programme d'accueil et d'hébergement des demandeurs d'asile | د پناه غوښتونکو د هرکلي او استو ګنې پروګرام | پرادا |
| PRD | Pôles régionaux Dublin | د دوبلين سيمه ييز دفترونه | پ اِر دِ |
| RSA | Revenu de solidarité active | د فعال يووالي عايد | اِر اِس اَ |
| SIAO | Services chargés de la gestion de l'hébergement d'urgence | د بيړني استو ګنځي د چارو سمبالونکي سروېسونه | سيا او |
| SPADA | Structures de premier accueil des demandeurs d'asile | د پناه غوښتونکو د لومړني هرکلي دفترونه | سپادا |
|  | Assistante sociale | ټولنيز مرستيال يا سوسيال |  |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | Assurance maladie | روغتیايي بیمه | |
| | Attestation de demande d’asile | د پناه غوښتنې تصدیق | |
| | Bureau d’aide juridictionnelle | د قضايي مرستو دفتر | |
| | Certificat de capacité à mariage | د واده د وړتیا تصدیق | |
| | Certificat de non opposition | د نه مخالفت تصدیق | |
| | Conseil d’état | دولتي شورا | |
| | DN@ | د استوګنځیو د مدیریت ملي ډیټابیس | |
| | Eurodac | یوروداک | |
| | Lettre recommandée avec accusé de réception | رسید لرونکی راجستري خط | |
| | Pôle emploi | د فرانسې د کار اداره یا پول امپلوا | |
| | Tribunal administratif | اداري محکمه | |
| | Visabio | د ویزې اوړند معلوماتو ډیټابیس | |